' > '

# آسان اصول فقه

تألیف

مولانا سيف الله رحماني صاحب

**پښتو ترجمه**

فضيلة الشيخ مولانا رضاء الله حف
الله

جميع الحقوق محفوظة بحقّ المترجِم

اسم الكتاب : ............................... آسان اصول فقه آ
تألیف
مولانا سيف الله رحماني صاحب

پښتو ترجمه

مولانا رضاء الله حفظه الله

الطبع..... الاول - سنة - 2023 - بمطابق ==
1444هجري
کمپوزنګ..................................ابوضحاك عادل شهزاد

الحمدلله العليم القديرالخالق كل شئ وهو العليم الجبار المتكبر المعز المذل وهو عليم بذات الصدور ، والصّلٰوة والسلام على رسول النبى الامي الهاشمي القريشي سيد الانبياء والمرسلين وعلى آله وأصحابه خدام الشرع المستنير وعلى الأئمة المستنبطين بالتدبير .

وبعد :

دالله رب العزت کروړها بيش بها احسانات دي ، پهٔ مونږه باندې چې مونږه ئی دکتم العدم نه وجودته راوستو اوبيا ئې زمونږه تربيت وکړو ، او پهٔ خپل دين ئې منورکړو .

*ایں سعادت بزور بازو نیست تانہ بخشد خدائے بخشندہ*

او بيا ئې خصوصى مهربانى پهٔ علماءددى امت ده ،چې دشراوفساددور کښې ئې ددوئ نه دخپل دين خدمت واخستو ،چاپهٔ ميدان جهادکښې ، داعلاءدکلمةالله دپاره خپل سرونه قربان کړل ، څوک ددين د اوچت والى دپاره ددنيا ګوټ ګوټ ته ورسيدل . څوک دعالم اسلام اصلاح پهٔ درس دقرآن کوى اوڅوک ددين بقاء پهٔ درس اوتدريس کوى ،اوڅوک ددين حفاظت پهٔ تصنيف او تأليف کوى ، الله دى دا ټول خدمتونه پهٔ خپل درباركښې قبول کړى ، پهٔ فنونوکښې دهرفن ځانله درجه ده خوپهٔ علوم شرعيه

کښ داصول فقه موضوع انتهائي اهمه ده . اوددی براه راست تعلق دفقه سره دے اوفقه خودقرآن اوحديث نه مستنبط شوی ده پۀ دیکښ یوښو خبری پیژندل ضروری دی .

۱. تعریف ۲.موضوع ۳.غرض ۴.حکم ۵.مرتبه ۶.تاریخ دتدوین .

**۱.تعریف:**

تعریف زده کول ځکه ضروری دی چې طلب دمجهول مطلق رانشی تعریف پۀ دوه قسمه دی .

۱ . حد اضافی :چې دمضاف اومضاف الیه جداجدا تعریف اوشی .

۲.حدلقبی:ددواړومجموعه تعریف کول .

۱.حداضافی:اصول جمع د اصل ده لغت کښې « مايبتنى عليه غيره »

ته وائی،ابتناء پۀ دوه قسمه ده ، ابتناء حسی، لکه ابتناء د چت پۀ دیوالونو باندې

۲ .ابتناءعقلی:لکه ابتناءداحکاموپۀ أدلوباندې،دي اصولوته چې اصول لفظ ایخودے شوے دے نوددی وجه نه چې احکام پۀ دی باندې بناءدی، اصطلاح کښې اصل پۀ څلورومعانی باندې راځی.

۱.پۀ معنی دراجح، لکه « الاصل فی استعمال الحقيقه »

۲.پۀ معنی دقاعدی،قانون،ضابطه، کلیه لکه « كل فاعل مرفوع اصل من النحو».

۳. پۀ معنی د دلیل لکه « والزَّكوٰة اصل وجوب الزَّكوٰة »
۴.استصحاب،قیاس کول دمایکون پۀ ماکان باندي.
فقه لغت کښې پۀ معنی د فهم سره راځی (فهم مع الدقة) او پۀ اصطلاح کښې «علم بالاحكام الشرعية الفرعية عن ادلتها التفصيلية »
۲. حد لقبی :« هو علم بقواعد يتوسل بها الى استنباط الاحكام الفقهية »

### ۲ . موضوع :

موضوع پیژندل ځکه پکار دي د پاره چې امتیاز راشی د دي علم د نورو علومو نه، پۀ موضوع د دی فن کښې اختلاف دے ، بعض وائی موضوع د دی فن ادله اربعه دی . ۱ . کتاب الله ۲. سنت رسول ۳. اجماع الامت ۴. قياس .
پۀ دی دا اعتراض راځی چې پۀ دیکښې خو د أحکامو نه هم بحث کیږی ، بعض نور وائی موضوع د دی فن احکام دی ، پۀ دي دا اعتراض راځی چې پۀ دیکښې خو د ادلؤوبحث هم کیږی ، صحیح قول دا دےچې موضوع د دی فن ادله او احکام دواړه دي .

### ۳. غرض:

«معرفة احكام الشرعية عن ادلتها التفصيلية » غرض ځکه زده کول ضروری دی چې سعی د طالب العلم عبث نشی .

### ۴. حکم .
د دی زده کول فرض علی الکفایة دی .

### ۵ . مرتبة او مقا : 
د هر ځیز مرتبة او مقام د هغی د موضوع نه معلومیږی ، موضوع د دی فن ادله او احکام دی ، ادله قرآن ، سنت ، اجماع او قیاس دی او د دی مرتبة خو هر چا ته معلومه ده ، دا مرتبة شوه پۀ اعتبار د شرافت ، دویمه مرتبة پۀ اعتبار د تعلُّم سره پۀ اعتبار د تعلم سره د ضروری عربی علوم ، نحو ، صرف ، لغت ، ادب ، کتابونه چې اوئیلے شی نو د هغی نه بعد د دي تعلُّم دے .

### ۴. تاریخ د تدوین :
تدوین وئیلےشی اجزاء منتشرؤ ته . د نبی◆ پۀ دور کښې دی قواعدو ته ضرورت نه وو ، ځکه چې نبی◆ته وحی کیدله ، د صحابه کرامو رضوان الله علیهم اجمعین پۀ دور کښې هم د دی فن قواعدو ته ضرورت نه وو ، ځکه چې د هغوئ زړونه صفا وو . د نبی ◆صحبت ورته حاصل وو ، د تابعینو دور صحابه کرام رضی الله عنهم ته نزدی وو هغوئ ته هم ضرورت نه وو ، د دی تدوین اگر چې قواعد وو، کله چې د تبع تابعینو دور راغلو او مختلف علوم مدوَّن شو . نحو ، صرف ، فقه ، نو د دی علم تدوین ته هم ضرورت راغلو .بیا پۀ دي خبره کښې اتفاق دےچې د فقه مدون نعمان بن ثابت امام

اعظم امام ابو حنیفه رحمه الله «المولود فی ثمانین ۸۰ هـ »«المتوفی بمائة وخمسین ۱۵۰ هـ»

بعض وائی اول مدوِّن د اصول فقه قاضی امام ابو یوسف رحمه الله دے .مشهوره دا ده چې د دی مدوّن محمد بن ادریس الشافعی رحمه الله ، « المولود فی مائة وخمسین ۱۵۰ هـ » پهٔ مکه کښې پیدا شوے وو او پهٔ ۲۰۴ هجری کښې پهٔ مصر کښې وفات شوے وو.

د ده یو کتاب دے د رسالة پهٔ نوم باندې ، چې پهٔ اصل کښېې کتاب الام د هغې مقدمه ده او پهٔ هغې کښې د أوامرو ، نواهیو ، بیان او خبر دے عبدالکریم وائی دا خبره مشهوره ده ، لیکن زما رائے دا ده چې مدوِّن اول قاضی امام ابو یوسف رحمه الله دےاو دا خبره راجح ده دریم قرن کښې بیا پهٔ دی فن کښې تصنیفات ولیکلی شو ، امام ابو منصور محمد الماتریدی رحمه الله دوه کتابونه پهٔ دی فن کښې ولیکل چې د یو کتاب نوم الجدل او دویم مآخذ الشرعیة .

پهٔ څلورم قرن کښې الشیخ احمد بن حسین رحمه الله«کتاب الذخیرة » ولیکلو ، امام ابو بکر جصاص احمد بن علی الحنفی رحمه الله کتاب الاصول ولیکلو .

پنځم قرن کښې لس/۱۰ تصنیفات پهٔ دی فن کښې ولیکلے شو ، تقویم الادلة ، الکفایة ، التبصرة ، التذکرة ،

كتاب البرهان ، اصول فخر الاسلام ، الاصول المستشفى وغيره .

بيا كوم كتابونه چې په اصول فقه كښې ليكلى شوى دى نو دا په درى /٣ قسمه دى يو/١قسم هغه دى چې بحث د عقلياتو نه كوى ، دا د متكلمينو طرز دے .

دويم /٢ قسم هغه دى چې د يو مذهب اصول پكښى نقل شوى وى . دا د فقهاء طرز دى .

دريم/٣ قسم هغه دى چې د دواړو جمع ئې پكښى كړى وى تاسو ته به پته وى چې د كتاب مصنف مولانا خالد سيف الله رحمانى (فاضل دارالعلوم ديوبند ) او صدر مدرس دے په دار العلوم سبيل السلام حيدر آباد كښې د مولانا رحمانى صاحب دا كتاب په خپل ترتيب سره نهايت غوره دے دا كتاب په مدارس للبنات كښى زير نصاب دے ، په فهم كښې پښتنو خويندو طالباتو ته لږ مشكل وو نو ما لره مولانا حميدالله صاحب مشوره راكړه چې د دى پښتو ژبه كښې ترجمه اوليكئ نو په هغه ورځ باندې پرى ما شروع وكړه او الحمد لله په دريوو ورځو كښې د دى ترجمه پائى تكميل ته ورسيده .

د دى نه وړاندى زما فقيريوكتاب چې خالص د مدرسة البنات دپاره ليكلے شوے وو .«حوارات النسوة »
الحمد لله په لږه عرصه كښې الله هغى لره دومره شرف قبوليت وركړو چې فى الحال ده دوو سوو/٢٠٠ مدارسو

نه پهٔ زياتو كښي زير نصاب دے . هغه كتاب خالص د عربئ ژبې زده كولو د پاره دے ، چې ترجمه او تشريح ئې پهٔ پښتو ژبه كښي شوى ده .نوركتابونه هم شته لكه حورات بنات الاسلام ، لغة الاطفال ، حوارات المسلم ، حورات ابناء الاسلام ، اتحاد الامة ،معارف الاحوال لاصلاح عمل الاطفال، خيرالاصول في حديث الرسول پښتو ، تعريب ميزان الصرف ،تعريب صرف بهائي، حديقة المسلم ،حديقة النسوة ،ماحكم الميراث في الاسلام ، كتاب الحجامة ،مه غمژن كيږه،اسلامي نغمي څني

كتابونه مطبوع شوي دي اوځنيغيرمطبوع دي. الله دى ورله قبوليت وركړ ى او الله سبحانه وتعالى دى دازمونږه او زمونږ د والدينو ، اساتذه ، رفقاء،اقرباء ،او عامو مسلمانانو د پاره پهٔ دنيا او آخرت كښي ذريعه ده نجات وګرځوي آمين ثم آمين .

١٤٤٠ هـ ١صفرالمضفر بمطابق ١٨ اكتوبر ٢٠١٨ء
الاحقر الافقر رضاء الله بن الحاج خان بادشاه.

بسم الله الرحمن الرحيم

مقدمه

## د اصول فقه تعریف

اصول فقه هغه قواعد دی چي د دی پۀ سبب او ذریعه د ادله شرعیه وو نه دعملی شرعی احکام د اخذ کولو طریقه معلومه وي.

## د اصول فقه موضوع

د اصول فقه موضوع ادله شرعیه او احکام شرعیه دي ، ادله شرعیه پۀ دی اعتبار باندي چي د دینه د تفصیلی احکامو استنباط کولے شی ، او احکام شرعیه پۀ دی لحاظ چي د ادله شرعیو نه مستنبط دی .

## د اصول فقه مقصود

د اصول فقه مقصود پۀ استنباط د احکامو کښي د خطاء نه محفوظ کیدل دی

## داصول فقه د□حثونو تقسیم

د دی وجه نه د اصول فقه بحثونه پۀ دري أهمو حصو کښي تقسیم دی.

(۱)ادله شرعیه (۲) احکام شرعیه (۳) د احکام شرعیه د استنباط طریقے .

## د ◻اب اول ادله شرعيه

**دليل تعريف**:دليل هغه دے چې پۀ ديکښي پۀ صحيح غور او فکر پۀ سبب او ذريعه حکم اوپيژندلے شی .

## د حکم شرعی تعريف

حکم شرعی هغه دے چې پۀ دي سره د مکلف د افعالو صفت شرعی بيان شی ، يعنی فرض ، واجب ، مستحب ، حرام ، مکروه ، او مباح : لکه

﴿و اقيموا الصَّلوة﴾(سورةالبقره/۴۳) .

**ترجمه :** او ودروئ مونځ لره . د دی نه پۀ بندگانو د مونځ د فرضيت حکم معلوم شو ﴿وَحَرَّمَ الرِّبٰوا﴾

**ترجمه :** او الله سود حرام کړے دے د دينه د بندگانو د پاره د سود د حرمت حکم معلوم شو

## د ادله شرعيه قسمونه

د ادله شرعيه وو دوه قسمونه دی (۱) متفق عليه (۲) مختلف فيه .

د متفق عليه نه مراد هغه ادله شرعيه دی چې پۀ هغی باندې د مجتهدين اتفاق وی ، او د مختلف فيه نه مراد هغه ادله شرعيه دی چې د دی د حجت کيدلو اوحجت نه کيدلو د مجتهدينو پۀ مينځ کښي اختلاف وي .

د متفق عليه د ادله تعداد متفق عليه ادله څلور دی

(١) كتاب الله (٢) سنت رسول ❐ (٣) اجماع (۴) قياس

**د مختلف فيه د ادلؤو تعداد**

مختلف فيه ادله شرعيه اووه٧ دى(١) استحسان (٢) مصالح مرسله (٣)عرف (۴) سد ذرائع (۵) قول صحابى (۶) شرائع ما قبل (٧) استصحاب .

**تمرين**

١.دليل څه ته وائى ؟ ٢. د حكم شرعى تعريف وكړئ ؟
٣. پهٔ لاندى ليكلى شوى آيتونو كښي وښائي چي دليل څه دے او حكم شرعى څه دے ؟

❁كتب عليكم الصيام☯(سورة البقرة/١٨٣)

**ترجمه :** فرض شوى دى پهٔ تاسو باندې روژى نيول .

❁واحل الله البيع☯(سورة البقرة/٢٧۵)

**ترجمه :** او حلال كړى دى الله خرڅول .
۴. متفق عليه أدله څومره دى او كوم كوم دى ؟
۵. مختلف فيه ادله څومره دى او كوم كوم دى ؟

## ❁دويم باب☯

## متفق عليه ادله شرعيه

**كتاب الله :**

**(١) د كتاب الله تعريف :**

كتاب الله هغه كتاب دے چې پۀ عربئ ژبه كښي پۀ
محمد رسول الله ❐ باندې نازل شوے دے ، د دی الفاظ او
معانی د الله د طرف نه دی ، او دا پۀ تواتر سره مونږ ته
رارسيدلے دے ، چې د سورة الفاتحه نه شروع دے او پۀ
سورة الناس باندې مكمل شوے دے . د دی نوم "القرآن
او الفرقان" دے .

پۀ حديث كښي الفاظ د رسول الله ❐ دی او معانی يی
صرف د الله د طرف نه دی . ترجمه د قرآن د الله د طرف
نه نازل شوے نه ده . تير شوی كتابونه مونږ ته پۀ تواتر
سره نه دی رارسيدلی او نه دا پۀ عربئ ژبه كښي وو .
شاذ قرآتونه مونږ ته پۀ تواتر سره نه دی رارسيدلی لكه د
عبدالله ابن مسعود ♦ قرآت « وَعَلَى الْوَارِثِ ذِى الرَّحْمِ
الْمحْرَمِ مِثْلُ ذٰلِكَ » او پۀ وارث باندې چې خاوند د خپلولئ
وی پۀ مثل ذالك كښی «ذِى الرَّحْمِ الْمحْرَمِ»پۀ شاذ طريقه
ثابت دے .
نو لهذا دا د كتاب الله مصداق نه دے .

**أسلوب :**

پۀ قران كښي د يو كار د مطالعي د پاره دي لاندی ليكلي
شوي طريقي غوره كړے شي .
١ . د أمر لفظ لكه ﴿إِنَّ اللهَ يَأْمُرُ بِالْعَدْلِ وَ الْإِحْسَانِ وَ
إِيْتَآءِ ذِى الْقُرْبٰى﴾(النحل/٩٠)

**ترجمه :** يقينا الله تعالی أمر کوي په انصاف ، او احسان سره او په حق ورکولو د خپلوانو سره .
د أمر صيغه لکه ﴿وَ اَوْفُوْا بِالْعَهْدِ ۚ اِنَّ الْعَهْدَ کَانَ مَسْئُوْلًا ﴿۳۴﴾﴾(سورة الاسراء/۳۴)
**ترجمه :** او پوره کړئ لوظ خپل ، يقينا لوظ دے تپوس کړے شوے .
۳ . د يو کار په باره کښي د فرض کيدو خبر ورکول لکه : ﴿کُتِبَ عَلَيْکُمُ الْقِصَاصُ فِی الْقَتْلٰی ؕ﴾(البقرة / ۱۷۸)
**ترجمه :** فرض شوي دے په تاسو (جاري کول) د قصاص په باره د وژلو شوؤ کښي .
۴ . د يو کار د خير او نيکئ اطلاع ورکول لکه : ﴿يَسْئَلُوْنَکَ عَنِ الْيَتٰمٰی ؕ قُلْ اِصْلَاحٌ لَّهُمْ خَيْرٌ ؕ﴾(البقرة / ۲۲۰)
**ترجمه :** او تپوس کوي دوئ ستا نه په باره د يتمانانو کښي ! اووايه اصلاح د دوئ د پاره غوره ده .
۵ . کله يو فعل د شرط او جزاء په طور ذکر کړے شي لکه : ﴿وَ اِنْ کَانَ ذُوْ عُسْرَةٍ فَنَظِرَةٌ اِلٰی مَيْسَرَةٍ ؕ﴾(سورة البقرة/۲۸۰) .
او که چري وي (قرضدارے) خاوند د غريبئ پس انتظار دے په تاسو تر مالدارئ پوري .

۶ . پهٔ يو کار او فعل باندي ثواب يا د ښائسته بدلی وعده شوي وي . لکه : ﴿قَدْ اَفْلَحَ الْمُؤْمِنُوْنَۙ۝۱ الَّذِيْنَ هُمْ فِيْ صَلَاتِهِمْ خٰشِعُوْنَۙ۝۲﴾(سورة المؤمنون/۲ )

**ترجمه :** يقينا کامياب دي مؤمنان هغه کسان چې دوئ پهٔ مونځونو خپلو کښي ويريدونکي وي د الله تعالی نه .

پهٔ قران کښي د يو څيز نه د منع کولو د پاره لاندی ليکلي شوي طريقي اختيارولے شي .

۱ . د تحريم لفظ لکه : ﴿حُرِّمَتْ عَلَيْكُمُ الْمَيْتَةُ﴾(سورة المائدة/۳ )

**ترجمه :** حرام کړے شوی ده پهٔ تاسو باندي مرداره .

۲ . د نهي لفظ لکه : ﴿وَ يَنْهٰى عَنِ الْفَحْشَآءِ وَ الْمُنْكَرِ وَ الْبَغْيِ﴾(سورة النحل/۹۰)

**ترجمه :** او منعه کوي ، د بے حيائي او بدکارونو او ظلم کولو نه .

۳ . د نهي صيغه لکه : ﴿وَ لَا تُلْقُوْا بِاَيْدِيْكُمْ اِلَى التَّهْلُكَةِ﴾(البقرة / ۱۹۵)

**ترجمه :** او مه غرځوئ لاسونه (ځانونه) خپل هلاکت ته .

۴ . د يو کار د کولو أمر او حکم وي لکه : ﴿وَ ذَرُوْا مَا بَقِيَ مِنَ الرِّبٰوا اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ۝۲۷۸﴾(سورة البقرة/۲۷۸)

**ترجمه :** او پريږدئ هغه مال چې پاتی دے د سود نه که چرته ئی وي مؤمنان

۵ . د حلّت نفي لکه : ﴿لَا يَحِلُّ لَكُمْ اَنْ تَرِثُوا النِّسَآءَ كَرْهًاؕ﴾(سورة النساء/١٩)

**ترجمه :** او حلال نه دى تاسو لره ، چې ميراث كبني واخلئ ښځو لره په زور .

۶ . د يو فعل د شر او بد والي خبر وركول لکه : ﴿وَ لَا يَحْسَبَنَّ الَّذِيْنَ يَبْخَلُوْنَ بِمَآ اٰتٰهُمُ اللّٰهُ مِنْ فَضْلِهٖ هُوَ خَيْرًا لَّهُمْ﴾(سورة ال عمران/١٨٠)

**ترجمه :** او هچري دي ګمان نه کوى هغه کسان چې بخل کوي ، په هغه چې ورکړي دوئ ته الله ، د فضل خپل نه چې دا غوره دي د دوئ د پاره .

۷ . د يو فعل او کار د نيکئ نه کيدلو خبر وركول لکه :﴿يَسْئَلُوْنَكَ عَنِ الْاَهِلَّةِ قُلْ هِىَ مَوَاقِيْتُ لِلنَّاسِ وَ الْحَجِّ وَ لَيْسَ الْبِرُّ بِاَنْ تَاْتُوا الْبُيُوْتَ مِنْ ظُهُوْرِهَا وَ لٰكِنَّ الْبِرَّ مَنِ اتَّقٰىۚ﴾(سورة البقرة/١٨٩)

**ترجمه :** او نه ده نيکي ! چې راشئ خپلو کورونو ته د شاګانو د هغوئ نه ، او ليکن نيکي (نيکي) د هغه چا ده چې ويرېږي د الله نه .

۸ . د يو فعل سره وعيد ذکر شي لکه : ﴿وَ مَنْ يَّقْتُلْ مُؤْمِنًا مُّتَعَمِّدًا فَجَزَآؤُهٗ جَهَنَّمُ خٰلِدًا فِيْهَا﴾(سورة النساء/٩٣)
.

**ترجمه :** او څوک چې قتل کړي مؤمن لره په قصد سره ، بدله ئى دوزخ دے هميشه به وى په دغه کبني .

۹ . يو فعل او كار ته ګناه وئيل لکه : ﴿فَمَنْۢ بَدَّلَهٗ بَعْدَ مَا سَمِعَهٗ فَاِنَّمَآ اِثْمُهٗ عَلَى الَّذِيْنَ يُبَدِّلُوْنَهٗ ﴾(سورة البقرة/١٨١)

**ترجمه :** پس هغه څوک چې بدل کړي وصيت لره ، پس د هغه نه چې واوريده هغه ، پس ګناه د بدليدو په هغه چا ده چې بدلوي دغه لره .

## په قرآن کښې يو فعل مباح او اختياري کيدل داسي ظاهر کړے دے

۱ . حلال وئيل لکه : ﴿وَ طَعَامُ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ حِلٌّ لَّكُم وَ طَعَامُكم حِلٌّ لَّهُمْ﴾(سورة المائده/۵)

**ترجمه :** او ذبيحه (حلاله) د هغه کسانو چې ورکړے شويدے کتاب ، حلال ده تاسو لره او ذبيحه ستاسو حلاله ده هغوئ لره .

۲ . د ګناه (إثم ، جناح) نفى ترينه شوي وي لکه : ﴿فَمَنِ اضْطُرَّ غَيْرَ بَاغٍ وَّ لَا عَادٍ فَلَآ اِثْمَ عَلَيْهِ﴾(سورة البقرة/١٧٣)

**ترجمه :** پس هغه څوک چې مجبور شي خوراک ته ، چې نه وي خوند لټونکے او نه زياتي کونکے پس نيشته ګناه په ده .

۳ . د حرج نفى شوي وي لکه : ﴿لَيْسَ عَلَى الْاَعْمٰى حَرَجٌ وَّ لَا عَلَى الْاَعْرَجِ حَرَجٌ وَّ لَا عَلَى الْمَرِيْضِ حَرَجٌ﴾(سورة النور/٦١) .

**ترجمه :** نیشه پهٔ ړوند باندې څه تکلیف او نه پهٔ ګوډ باندې تکلیف او نه پهٔ بیمار څه تکلیف .

**۴ .** د یو نعمت او منفعت ذکر وکړي او احسان ئې ورته وئیلے وي لکه : ﴿وَ الْاَنْعَامَ خَلَقَهَا لَكُمْ فِيْهَا دِفْءٌ وَّ مَنَافِعُ وَ مِنْهَا تَاْكُلُوْنَ۝﴾(سورة النحل/۵)

**ترجمه :** او څاروي پیدا کړي الله تعالی دغه ، ستاسو د پاره پهٔ هغو کښې سامان د ګرمئ دے، او نفعې دي او د هغو نه خوراک کوئ تاسو .

**۵ .** د یو څیز پهٔ تحریم باندې رد شوے وي لکه : ﴿قُلْ مَنْ حَرَّمَ زِيْنَةَ اللّٰهِ الَّتِيْٓ اَخْرَجَ لِعِبَادِهٖ وَ الطَّيِّبٰتِ مِنَ الرِّزْقِ﴾(سورة الأعراف/۳۲)

**ترجمه :** اوایه چا حرام کړے ، ښائست د الله تعالی ، هغه چه راویستلے د پاره د بندګانو خپلو او پاکیزه د رزق نه .

**۶ .** د یو څیز پهٔ باره کښې خبر ورکړی وي چې دا څیز الله ستاسو د پاره پیدا یا مسخر کړے دے لکه : ﴿هُوَ الَّذِيْ خَلَقَ لَكُمْ مَّا فِي الْاَرْضِ جَمِيْعًا﴾(البقرة/۲۹)

**ترجمه :** الله تعالی هغه ذات دے چې پیدا کړي دي ستاسو د فائدې د پاره هغه چې پهٔ زمکه کښې دي ټول .

﴿وَ سَخَّرَ لَكُمْ مَّا فِي السَّمٰوٰتِ وَ مَا فِي الْاَرْضِ جَمِيْعًا مِّنْهُ﴾(سورة الجاثيه/۱۳)

**ترجمه :** او په خدمت کښي لګولي ستاسو د پاره هغه څه چې په آسمانونو او زمکو کښي دی ، د دي ټولو عقیده اوساتئ د الله د طرف نه .

## د قرآن په احکامو کښي د دلالت دوه قسمونه دی

١ . دلالت قطعیه ، ٢ . دلالت ظنّیه

**١ . دلالت قطعیه :**

دلالت قطعیه دا دے چې د دي د کلام یو مراد او مقصد متعیّن وي د دویمي معني إحتمال پکښي نه وي .

لکه :﴿اَلزَّانِيَةُ وَ الزَّانِىْ فَاجْلِدُوْا كُلَّ وَاحِدٍ مِّنْهُمَا مِائَةَ جَلْدَةٍ﴾(سورة النور/٢) .

**ترجمه :** بد کاري کولو والا زنانه او سړے اوهئ هر یو د دوئ نه سل/١٠٠ دُري (کوړي)

په دي آیت کښي ١٠٠/ کوړي او د زنانه په مقابله کښي د سړي دوچند والي باندې قطعي یقیني واضح او بے غباره دلالت موجود دے

﴿يُوْصِيْكُمُ اللّٰهُ فِىْٓ اَوْلَادِكُمْ ۗ لِلذَّكَرِ مِثْلُ حَظِّ الْاُنْثَيَيْنِ﴾(سورة النساء/١١)

**ترجمه :** وصیت (حکم) کوي تاسو ته الله په باره د (میراث) د أولاد ستاسو کښي ، د نارینه د پاره په مثل د برخي د دوؤ زنانؤ دي .

**٢ . دلالت ظنّیه :**

دلالت ظنيه دا دے چې پۀ دي کلام کښي د يو نه پۀ زياتو معاني احتمال وي لکه : ﴿يَتَرَبَّصْنَ بِأَنْفُسِهِنَّ ثَلَٰثَةَ قُرُوْٓءٍ﴾(سورة البقرة/٢٢٨)

**ترجمه :** او طلاق شوي ښځې به انتظار کوي پۀ ځانونو خپلو دري حيضونه .

د قروء معنى د حيض هم ده او د طهر هم ده

﴿سنت﴾

د رسول الله ❑ قول ، فعل او تقرير ته حديث يا سنّت وائي

د قول نه مراد د نبی ❑ ارشادات دي لکه « إنَّمَا الْأَعْمَالُ بِالنِّيَّاتِ([1]) » .

د فعل نه مراد د نبی ◆ أفعال او معمولات دي لکه « كَانَ النَّبِيُّ ❑ يَغْدُوْ اِلَى الْمُصَلّٰى وَالْعَنَزَةُ بَيْنَ يَدَيْهِ تُحْمَلُ وَ تُنْصَبُ بِالْمُصَلّٰى بَيْنَ يَدَيْهِ فَيُصَلِّيْ اِلَيْهَا([2]) »

وو نبی ◆ چې تيز به تللو عيد ګاه ته ، او نيزه به ئي مخې ته وه او چتولے به شوه او اودرولے به شوه پۀ عيد ګاه کښې د هغوئ مخې ته او مونځ به ئي کولو .

د تقرير نه مراد دا ده چې د نبی ◆ مخې ته چا يوه خبره کړي وي يا چا يو عمل کړے وي يا د چا يو عمل د نبی ◆ مخې ته نقل شوے وي او نبی ◆ پۀ هغي انکار نه

---

([1])بخاري شريف ١/٢

([2])بخاري عن ابن عمر باب حملا يعنزه او الحرية بين يدى الامام يوم العيد .

وي کړے لکه د حضرت عمرو بن العاص♦ نه روايت دے « اِحْتَلَمْتُ فِىْ لَيْلَةٍ بَارِدَةٍ (وَاَنَا) فِىْ غَزْوَةٍ ذَاتِ السَّلَاسِلِ فَاشْفَقْتُ اِنِ اغْتَسَلْتُ اَنْ اَهْلِكَ فَتَيَمَّمْتُ ثُمَّ صَلَّيْتُ بِاَصْحَابِىْ ثُمَّ اَخْبَرْتُ النَبِىَّ❐ فَضَحِكَ وَلَمْ يَقُلْ شَيْئًا ([1]) »

**ترجمه :** زما احتلام اوشو په يخه شپۀ کښي او زه په غزا ده ذات السلاسل کښي ووم نو زه ويريدم که چرته غسل اوکړم نو هلاک او مړ به شم نو ما تيمم اوکړو بيا مي مونځ اوکړو ملګرو لره بيا مى خبر ورکړو نبى◆ ته نو هغه وخاندل او هيڅ ئي اونه وئيل .

### ❁حجّيَت حديث☯

د حديث پۀ حجيت او دليل شرعي کيدلو باندي د تمام أئمه مجتهدين اتفاق دے ، د دي وجه نه الله سبحانه وتعالى د رسول الله❐ د اطاعت مستقل حکم کړے دے ❁وَ اَطِيْعُوا اللهَ وَ اَطِيْعُوا الرَّسُوْلَ☯(سورة المائده/٩٢) .

**ترجمه :** تابعداري اوکړئ د الله تعالى او تابعداري اوکړئ د رسول الله❐ او د رسول الله❐ اطاعت ته ئي پۀ خپله د الله تعالى اطاعت وئيلے دے ❁ مَنْ يُّطِعِ الرَّسُوْلَ فَقَدْ اَطَاعَ اللهَ ☯(سورة النساء / ٨)

([1]) رواه أبو داؤد : ١/٨ باب اذا خاف الجنب البرد تيمم .

**ترجمه :** چا چې تابعداري اوکړه د رسول الله❐ نو يقينا ده د الله سبحانه وتعالى تابعداري اوکړه .

د إتباع سنت په واجب والى باندي د صحابه کرامو رضوان الله عليهم أجمعين او ائمه فقهاء اتفاق دے .

نو لهذا د حديث د حجت والى نه انکار کول خالص ګمراهي ده ، په خپله د رسول الله❐ نه د داسي خلقو په باره کښي مذمت نقل شوے دے نبى◆ فرمائي : « يُوْشِكُ رَجُلٌ مُتَّكِئًا عَلٰى اَرِيْكَتِهٖ يُحَدِثُّ بِحَدِيْثٍ مِنْ حَدِيْثِى فَيَقُوْلُ : بَيْنَنَا وَ بَيْنَكُمْ كِتَابُ الله فَمَا وَجَدْنَا فِيْهِ مِنْ حَلَالٍ اِسْتَحْلَلْنَاهُ وَمَا وَجَدْنَا فِيْهِ مِنْ حَرَامٍ حَرَّمْنَاهُ اَلَا وَاِنَّ مَا حَرَّمَهُ رَسُولُ اللّٰهُ❐ مِثْلُ مَا حَرَّمَهُ اللهُ (1)»

**ترجمه :** قريب او نزدي ده چې وي به يو سړے ستاسو نه چې تکيا به ئي لګولي وي په خپل تخت باندي چې بيانوي به يو حديث زما د احاديثو نه او وائي به زمونږه او ستاسو په مينځ کښي د الله کتاب دے نو چې څه شے مونږه په ديکښي بيا موندل د حلال نه نو مونږه به ئي حلال ګنړو او هغه چې مونږه په ديکښي حرام بيا موندل نو مونږه به ئي حرام ګنړو .

خبردار ! يقينا هغه چې حرام کړي دي رسول الله❐ پشان د هغه دى چې الله حرام کړي دي .

(1) رواه إبن ماجه ١/٣ باب إتباع سنة رسول الله ❐

## د سنت قسمونه

د راويانو د تعداد په لحاظ سره د حديث دري/٣ قسمونه دي .

١ . متواتر ٢ . مشهور ٣ .خبر واحد

**١ . متواتر :**

هغه حديث دے چې د صحابه كرامو رضوان الله عليهم أجمعين د دور نه واخله تر نن ورځې پوري دومره لوئے جماعت رانقل كړے وي چې عادتًا په دروغو باندې د هغوئ اتفاق ممكن نه وي .

تواتر په دوه/٢ قسمه دے ١ . تواتر لفظى ٢ . تواتر معنوي

**تواتر لفظي :**

دا دے چې د حديث يو متن داسي جماعت روايت كړے وي چې عادتًا په دروغو باندي د هغوئ اتفاق ممكن نه وي لكه : « مَنْ كَذَبَ عَلَيَّ مُتَعَمِّدًا فَلْيَتَبَوَّءْ مَقْعَدَهُ مِنَ النَّارِ[1] »

**ترجمه :** چا چې په ما باندې قصدًا دروغ جوړ كړو نو ده په اور كښې ځان لره ځائے جوړ كړو .

دا روايت د ٩٨/ أته نوي صحابه كرامو رضوان الله عليهم أجمعين نه نقل شوے دے يا لكه د مسح على الخفين

---

(1) ابن ماجه ، باب التغليظ فى تعمد الكتب على رسول الله ﷺ ١/٩ .١٢

روايتونه شو لكه چې د إمام أحمد رحمه الله نه نقل شوي دي چې ۴۰/ ځلويښت صحابه كرام د دي حديث نقل كونكي دي .

**تواتر معنوي :**

دا دے چې پۀ تعبير كښي د اختلاف باوجود يو خاص مضمون د صحابه كرامو رضوان الله عليهم أجمعين د زماني نه د راويانو دومره لوئے تعداد نقل كړے وي چې پۀ ظاهره پۀ دروغو باندي اتفاق ممكن نه وي ، لكه د نبی◆ نه د مسواك ثبوت داسي قسم متواتر أحاديث ډير دي .

متواتر حديثونه قطعي الثبوت وي او د علم يقين فائده وركوي ، او پۀ تواتر سره ثابت شوي احكام د مناسب تأويل نه پۀ غير انكار كولو والا كافر كيږي .

**مشـــهور :**

هغه حديث دے چې د صحابه كرام پۀ دور كښي يو يا دوو/۲ نقل كړے وی ، ليكن د تابعينو پۀ دور كښي دومره لوئے جماعت نقل كړے وي چې عادتًا پۀ دروغو باندي اتفاق كول نا قابل تصور وي لكه « إِنَّمَا الْأَعْمَالُ بِالنِّيَاتِ([1])»

**ترجمه :** يقينا ثواب د عملونو پۀ نيت دے د رسول الله❐ د دي حديث راوي صرف حضرت عمر◆ دے ، د

([1])بخاري شريف ۱/ ۲

حضرت عمر◆نه صرف علقمه رحمه الله او د علقمه رحمه الله نه ډيرو زياتو راويانو نقل کړے دے ، تر دي پوري چې د أئمه أربعه نه دا روايت منقول دے .

پۀ حديث مشهور (علم طمأنيت) حاصليږي يعنى زړۀ د دي پۀ صحيح والى باندې مطمئن کيږي ، ألبته د دى صحت د يقين فائده نه ورکوى ، د حديث مشهور پۀ ذريعه د کتاب الله پۀ عموم کښې تخصيص او پۀ مطلق کښې تقئيد کولے شي لکه قرآن مطلق وصيت صحيح ګرځولے دے ﴿مِنۢ بَعۡدِ وَصِيَّةٖ يُوصِينَ بِهَآ أَوۡ دَيۡنٖ﴾(سورة النساء/١٢) .

**ترجمه :** روستو د وصيت نه چې وصيت ئې کړے وي پۀ دي سره او يا روستو د قرض نه .

ليکن حديث زيات مقدار وصيت پۀ يوه دريمه حصه مقيد کړے دے لکه څنګه چې نبى◆ فرمائي : « فَالثُّلُثُ وَالثُّلُثُ كَثِيرٌ([1]) » وصيت کول پۀ دريمه حصه او دريمه حصه هم زياته ده دغه رنګه د ميراث پۀ حکم کښې عموم دے چې د أولاد د پاره ميراث دے ﴿يُوصِيكُمُ ٱللَّهُ فِيٓ أَوۡلَٰدِكُمۡۖ﴾

(سورة النساء/١١)

---

([1]) بخاري ، باب الوصية بالثلث ١/٣٨٣ . ١٢

**ترجمه :** وصيت (حكم) كوي تاسو ته پهٔ باره (د ميراث) د اولاد ستاسو كښي .

ليكن حديث د دي عام تخصيص كوي كه چرته اولاد د خپل پلار قاتل وي نو د دي د پلار د مال نه به ورته ميراث نه ميلاويږي « اَلْقَاتِلُ لَا يَرِثُ »

**ترجمه :** قاتل د پلار به ميراث نه وړي .

## خبر واحـد :

چي د صحابه رضى الله عنهم ، تابعين او د تبع تابعين پهٔ دور كښي دومره خلقو نه وي روايت كړے چي عادتًا پهٔ هغوئ باندي د دروغو اتفاق نه وي ، زيات أحاديث د دى قسم نه دي . لكه نبى◆ فرمائي : « لَا يُؤْمِنُ اَحَدُكُمْ حَتّٰى يُحِبَّ لِاَخِيْهِ مَا يُحِبُّ لِنَفْسِهِ (1)»

**ترجمه :** مؤمن نشي كيدے يو كس ستاسو نه تر هغه وخته پوري چي دا خوښ كړي د خپل ورور مسلمان د پاره هغه چي د خپل ځان د پاره ئي خوښوي .

د خبر واحد صحت ثابت دے نو پهٔ دي باندي عمل كول واجب دي ألبته د علم يقينى فائده نه وركوي ، د خبر واحد نه اعتقادات هم ثابتيږي ليكن د داسي اعتقادي أحكامو نه منكر ته كافر نشي وئيلے .

### تمـــرين

(1) ترمذي بـاب مـا جاء في ابطال ميراث القاتل ٢/٣١ . ١٢

١ . سنت چا ته وائي ٢ . كه چرته يو راوي داسي نقل كړي چې ما د نبی◆ مخي ته اودس كړے دے نو دا قول دے يا فعل يا تقرير
٣ . د حديث د حجت والی څه دليل دے ؟
٤ . په تواتر لفظی او تواتر معنوي كښي فرق بيان كړئ ؟
٥ . پنـ ځه وقته مونځ په حديث متواتر سره ثابت دے يا نه ؟ او كه ثابت وي نو په كوم قسم تواتر سره ؟
٦. په حديث مشهور او حديث متواتر كښي څه فرق دے ؟
٧ . خبر واحد چا ته وائي ؟
٨ . د خبر واحد ، خبر مشهور او د خبر متواتر أحكام اوښائي ؟

## اجماع

د رسول الله❐ د وفات نه بعد د امت محمديه❐ مجتهدين كه په هره زمانه كښي د يو حكم شرعي په طرف اتفاق كول اجماع ده ، د رسول الله❐ په زندگئ كښي د امت اجماع معتبره نه ده . د عام مسلمانانو اتفاق هم اجماع نه ده او نه د اكثرو مجتهدينو رائے ته اجماع وئيلے شي ، دغه رنګه په يو لغوي يا عقلي خبره باندې اتفاق ته هم اجماع نشي وئيلے كيدے .

اجماع په دوه/٢ قسمه ده . ١ . اجماع قولي ٢ . اجماع سكوتي .

### ١ . اجمــاع قولي :

دا هغه اجماع ده چې په ديکښي تمام مجتهدين صراحتًا په يو رائے باندي د اتفاق اظهار اوکړي لکه د صحابه رضى الله عنهم په دي أمر باندي اجماع ده چې نيا د شپږمي حصى وارثه ده .

## ۲ . اجماع سکوتي :

دا هغه اجماع ده چې په ديکښي په يو مسئله کښي بعض مجتهدين د خپلي رائے اظهار کړے وي او نورو خلقو په دي سکوت اختيار کړےوي . حضرت عمر♦ په يوه زنانه حد جاري کولو هغه ئي په کوړو وهله ، نو حضرت معاذ♦ په دي نکير اوکړو ، او وي فرمائيل چې ستاسو په دي زنانه باندې د سزا ورکولو حق شته ليکن چې کوم بچې په خيټه دے په هغه ستاسو د سزا څه حق دے ؟ « اِنْ كَانَ لَكَ سَبِيْلٌ عَلَيْهَا فَلَمْ يَجْعَلِ اللهُ لَكَ عَلٰى مَا فِىْ بَطْنِهَا سَبِيْلًا([1])»

**ترجمه :** که چرته ستا حق وي په دي زنانه د سزا نو الله سبحانه وتعالى تا لره څه حق نه دے ګرځولے په هغه څه چې د دي زنانه په خيټه کښي دي يعني بچې په دى باندي نورو صحابه کرامو رضى الله عنهم سکوت اختيار کړو ، او حضرت عمر♦ خپله اراده واپس کړه ، د اجماع سکوتي معتبر والي د پاره شرط دا دے .

([1])مصنف عبد الرازق ، ۷/۳۵۳ . ۱۲

١ . چې د دي مجتهد رائے به ټولو اهل علمو ته رسيدلي وي .
٢ . د اظهار رائے نه بعد به دومره زمانه تيره شوي وي چې د علم والا د پاره به پۀ دی باندي غور او فکر کافي وي .
٣ . مسئله به اجتهادي وي که چرته پۀ يوه قطعي مسئله کښي د نص خلاف يو مجتهد فتوي ورکړي او نور خلق پۀ دي سکوت اختيار کړي نو دا د موافقت دليل نه دے ، بلکه دا د دي خبري علامت دے چې دا قابل توجه نه دے .

❁دليل حجيت☯

د الله تعالى ارشاد دے ❁وَ مَنْ يُّشَاقِقِ الرَّسُوْلَ مِنْۢ بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُ الْهُدٰى وَ يَتَّبِعْ غَيْرَ سَبِيْلِ الْمُؤْمِنِيْنَ نُوَلِّهٖ مَا تَوَلّٰى وَ نُصْلِهٖ جَهَنَّمَؕ وَ سَآءَتْ مَصِيْرًا۠﴿۱۱۵﴾☯

(سورة النساء/١١٥)

**ترجمه :** او څوک چي خلاف كوي د رسول ◆ پس د هغه نه چي واضحه شو هغه ته ، هدايت او تابعداري كوي بغير د لاري د مؤمنانو نه ، نو اوبه ګرځوؤ د ه لره هغه خواته چي دے ګرځيدلے دے ، او داخل به ئى كړو دوزخ ته ، او بد دے دوزخ ځائے د ګرځيدلو .

إجماع سبيل المؤمنين« اِنَّ اُمَّتِىْ لَنْ تَجْتَمِعَ عَلٰى ضَلَالَةٍ(1)

»

**ترجمه :** يقينا زما امت هيڅ كله په ګمراهئ نه جمع كيږي ، دا او د دي مضمون متعدد روايات دي چي د دينه معلوميږي چي امت په غلطه خبره نه جمع كيږي .

**سند اجماع :**

اجماع هميشه په يو دليل شرعي باندي مبنى وي ، ديته سند اجماع وائي ، سند اجماع څلور/۴ دي .

١ . كتاب الله ٢ . سنت رسول الله❐ ٣ . قياس ۴ . مصلحت .

---

(1) ابن ماجه باب السواد الأعظم ٣٦٧ ، حديث نمبر ٢٩٩٨ . ١٢

داسي اجماع چې د هغي سند قرآن وي د هغي مثال لکه د نيا سره نکاح کول د دي پۀ حرمت باندي اجماع ده ، او د دي بنياد آيت قرآني دى ﴿حُرِّمَتْ عَلَيْكُمْ أُمَّهٰتُكُمْ﴾(سورة النساء/٢٣) .

**ترجمه :** حرامي شوي ، پۀ تاسو (نکاح) د ميندو ستاسو ، د دينه معلومه شوه چې جدات د أمهات أصل دے .

د حديث د سند کيدلو مثال دا دے چې کله هم دوه/٢ محرم زنانه پۀ خپله نکاح کښي جمع کول جائز نه دي؛ ځکه پۀ حديث کښي دي « لَا تُنْكَحُ الْمَرْأَةُ عَلٰى بِنْتِ أُخْتِهَا ، وَلَا تُنْكَحُ الْمَرْأَةُ عَلٰى عمتها وَلَا تُنْكَحُ الْمَرْأَةُ عَلٰى خَالَتِهَا ، وَلَا تُنْكَحُ الْمَرْأَةُ عَلٰى بِنْتِ اَخِيْهَا ، » .

**ترجمه :** نه به شي نکاح کيدے زنانه پۀ خورزه د دي زنانه او نه به شي پۀ نکاح کيدے زنانه پۀ ترور (پپو) او نه به شي پۀ نکاح کيدے زنانه پۀ ترور (ماسي) او نه به شي پۀ نکاح کيدے زنانه پۀ وريره باندي .

د قياس سند کيدل د اجماع د پاره د هغي مثال دا دے چې صحابه کرام رضى الله عنهم د حضرت ابوبکر♦ امامت کبرى پۀ امامت صغرى باندې قياس کړو ، او د هغه پۀ خلافت باندې متفق شو ، يا صحابه کرام رضى الله عنهم د شرابو حد پۀ حد قذف باندي قياس کړو ، او پۀ دي خبره متفق شو چې حد خمر هم ٨٠/ اتيا کوړي دي .

پۀ مصلحت باندي مبنی د اجماع مثال د قرآن پۀ جمع والی باندي د صحابه کرامو رضی الله عنهم اجماع او اتفاق دے .

## تمـــرين

١ . د اجماع تعريف اوکړئ او دوه/٢ داسي أحکام بيان کړئ چي پۀ هغه د أمت اجماع وي .
٢ . د اجماع کوم کوم قسمونه دي ؟
٣ . د اجماع د حجت والي څه دليل دے ؟
۴ . د اجماع سکوتي د معتبر کيدو د پاره کوم کوم شرطونه دي ؟
۵ . سند اجماع کوم کوم دي ؟

## قياس

**تعريف :**

د علت د مشترك والي پۀ بناء باندي غير منصوص واقعه يعني پۀ فرع کښي منصوص صورت يعني د أصل حکم لګولو ته قياس وائي .

دغه رنګه د قياس/۴ څلور ارکان دي . ١. أصل ٢ . فرع ٣ . حکم ۴ . علت .

**١ . أصل :**

د أصل نه مراد هغه صورت دے چي صراحتًا پۀ کتاب الله او سنت کښي مذکور وي يا د اجماع نه ثابت وي ،

ديته مقيس عليه هم وائي ، د فرع نه مراد هغه واقعه ده چې پۀ نص کښې صراحتًا ذکر نه وي ، ليکن پۀ ديکښې د منصوص صورت حکم لګولے شوے وي .
د دي دويم/٢ نوم «مقيس» هم دے .

**٢ . حکم :**

دا د فعل هغه أثر دے چې پۀ نص کښې مذکور وي ، او غير منصوص واقعي ته منتقل شوے وي .

**٣ . علت :**

علت هغه درجه ده چې د دي د وجه نه پۀ اصل کښې يو خاص حکم لګولے شوے وي ، او دغه حکم فرع ته تجاوز کړے وي .
مثلًا قرآن د انګور شرابو ته يعني خمر ته حرام وئيلي دي پۀ دی باندي د کهجورو وغيره شراب قياس کړيدے ، او حرام ئی ورته وئيلي دي ، نو خمر مقيس عليه شو د کهجور شراب مقيس ، حرام کيدل حکم دے ، او نشه ورکول علت دے چې پۀ دواړو شرابو کښې موجود دے .

**٤ . حجيت :**

د قياس پۀ حجت کيدو باندې أئمه أربعه او أکثر فقهاء کرام متفق دي ، ځکه د الله تعالى ارشاد دے
﴿فَاعْتَبِرُوْا يٰٓاُولِى الْاَبْصَارِ ۝٢﴾(سورة الحشر/٢)
**ترجمه :** عبرت حاصل کړئ اے د عقل والاوو اکثر علماء د (اعتبار) نه قياس مراد اخلي .

۲ . د حضرت معاذ بن جبل◆ نه روايت شوے دے « اَجْتَهِدُ بِرَأْيِىْ ([1])»

**ترجمه :** زه به اجتهاد كوم پهٔ خپلي رائے سره .
دلته د اجتهاد رائے نه مراد قياس دے .

۳ . د قبيله بنو خثعم يوي زنانه د نبی◆ نه تپوس اوكړو چي زما والد وفات شوے دے ، پهٔ هغه باندي حج فرض وو ، آيا زه د هغي د طرف نه حج كولے شم ؟ نبی◆ ورته وفرمائيل : كه چرته پهٔ هغه باندې دَين (قرض) وي نو ته به ئي أدا كوي ؟ هغي زنانه اوئيل آو ، نبی◆ اوفرمائيل بيا د هغه د طرف نه حج اوكړه ([2]).

پهٔ ديكښي نبی◆ حق الله پهٔ حق الناس باندې قياس كړے دے .

۴ . « عَنْ عُمَرَ◆ قَالَ : صَنَعْتُ الْيَوْمَ يَا رَسُوْلَ اللهِ اَمْرًا عَظِيْمًا ! قَبَّلْتُ وَاَنَا صَائِمٌ ، فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ❒ اَرَءَيْتَ لَوْ مَضَمَضْتَ بِمَاءٍ وَاَنْتَ صَائِمٌ ؟ فَقَالَ لَا بَأْسَ ([3])».

**ترجمه :** كار مو كړے دے نن ورځ يا رسول الله❒ يو لوئ كار ، خپله ښـځه مي ښـكل كړه او زه روژه ووم نبی◆ ورته اوفرمائيل څه دی خيال دے كه ته خولي ته اوبه واچوي او ته روژه ئي ؟ بيا ئي ورته اوفرمائيل هيڅ

---

([1]) مسند الامام احمد بن حنبل جلد/۵ صفحه/۲۹۲ . ۱۲
([2]) مشكوة عن ابن عباس جلد/۱ صفحه /۲۲۱ . ۱۲
([3]) ابو داؤد ، باب القبلة للصائم جلد/۱ ص/۳۲۴ .

پروا نه كوي ، په دي كښي نبى عليه السلام ښكلول په مضمضه قياس كړل .
۵ . د حضرت عمر♦ په دور كښي يوي زنانه د خپل دوست سره خپل ناسكه ځوئے مړ كړو، او دا معامله عدالت فاورقي ته لاړه. حضرت عمر♦ سوچ اوكړو چي د يو په بدله دوه/۲ مړه كړم ؟ حضرت على♦ اوفرمائيل كه چرته ته د يو اوښ په غلا كښي دوه/۲ كسان شريك كوي نو د دواړو لاسونه به كټ كيږي يا نه ؟ حضرت عمر♦ اوفرمائيل : آو : حضرت على♦ اوفرمائيل بيا دغه رنګه د دواړو قتلول پكار دي .
۶ . دغه رنګه صحابه كرام رضى الله عنهم د حضرت ابوبكر صديق♦ خلافت كبرٰى د مونځ په امامت صغرٰى باندي قياس كړے وو ، او وي فرمائيل : « رَضِيَهُ رَسُوْلُ اللهِ♦ لِدِيْنِنَا اَفَلَا نَرْضَاهُ لِدُنْيَانَا »غوره كړے وو نبى♦ ابوبكر صديق♦ زمونږه د دين د پاره آيا مونږه به ئي نه غوره كوؤ . د خپلي دنيا د پاره .
د دينه معلومه شوه چي صحابه كرام رضى الله عنهم د قياس قائل وو او غير منصوص واقعات په منصوص مسائل كښي د مماثلت په بناء باندي دغه رنګه حكم لګولے شي .

## تمــرين

۱ . قياس څه ته وائي ؟

۲ . د قياس أركان كوم كوم دي ؟
۳ . زكوٰة يو عبادت دے د دي د وجه نه د نا بالغ پهٔ مال كښي واجب نه دے لكه څنګه چې مونځ پهٔ نا بالغ واجب نه دے . پهٔ دي مثال كښي مقيس عليه ، مقيس ، حكم او علت متعين كړئ .
۴ . د قياس د حجت والي كوم كوم دليلونه دي ؟

## ☸د قيــاس شرطونه☯

د قياس د پاره بنيادى /۸ أته شرطونه دي پهٔ ديكښي د دريوو/۳ تعلق د أصل سره دے ، د دوؤ/۲ تعلق د فرع سره او د دريوو/۳ تعلق د علت سره دے .

## د اصل سره متعلق شرطونه

١ . د مقيس عليه حکم د دی سره خاص نه وي که چرته د مقيس عليه حکم د دی سره خاص وي ، نو پهٔ دي باندې دويمه واقعه نشي قياس کيدلے ، لکه د تهجدو مونځ پهٔ نبی◆ باندې فرض وو ليکن قرآن دا د نبی◆ خصوصيت ګرځولے دے . ﴿نَافِلَةً لَّكَ﴾(سورة الاسراء/٧٩)

**ترجمه :** زياتي دے ستاسو د پاره . د دی وجه نه پهٔ بل کس باندې د تهجدو مونځ نشي فرض کيدلے ، دغه رنګه قرآن د شهادت نصاب دوه/٢ نارينه يا يو نارينه او دوه/٢ زنانه مقرر کړي دي .

ليکن نبی◆ د حضرت خزيمه◆ تنها شهادت د دوؤ/٢ قائم مقام ګرځولے دے ، دا حکم د هغه سره خاص دے ، د دی وجه نه بل کس که هر څومره متقی وي پهٔ دي ئي نشی قياس کولے ، نو لهذا که هر څنګه کس وي د هغه ګواهی د دوؤ/٢ قائم مقام کيدلے نه شي .

٢ . پهٔ خپله د مقيس عليه حکم به خلاف د قياس نه وي ... که چرته د مقيس عليه پهٔ حکم کښي عقل او رائے سره څه دخل نه وو نو پهٔ دي باندې بل يو صورت قياس کول صحيح نه دے ، لکه پهٔ مونځ کښي د رکعتونو تعداد ، د زکوٰة مالونه ، او مقدارونه ، حدود ، کفارات ، دا أحکام

تعبّدي دي ، د دی وجه نه پهٔ دي باندي بله مسئله نه شي قياس کيدلے .

**۳ .** د مقيس عليه حکم به د زماني پهٔ اعتبار باندې د مقيس نه مخکښي راغلے وي ، چې کوم أمر وي او د هغی حکم شريعت د مخکښي نه ورکړے وي ، د دينه روسته پهٔ راروان حکم باندې قياس کول صحيح نه دي .

مثلا د اودس حکم مخکښي دے او د تيمم دا روستو پهٔ تيمم کښي بالاتفاق نيت صحيح کول ضروري دي ، که چرته پهٔ اودس کښي د نيت وجوب پهٔ تيمم قياس کړي او ثابت شي نو دا صحيح نه ده ؛ ځکه چې کوم مقيس جوړ شويدے دا د حکم د نزول پهٔ اعتبار سره مؤخر دے او د اودس حکم مقدم دے .

## ☸د فرع سره متعلق شرطونه☯

پهٔ خپله د مقيس متعلق څه نص يا اجماع موجوده نه وي ، که چرته د مقيس متعلق نص يا اجماع موجود ه وه او هغه تقاضه کوله چې دلته حکم د دی قياس خلاف دے پهٔ داسی صورت کښي پهٔ دويم منصوص يا اجماعي حکم باندې د دی قياس کول صحيح نه دی . لکه قرآن پهٔ کفاره د قتل کښي د داسي غلام آزادول کفاره گرځولي ده چې مسلمان وي .

دغه رنگه پهٔ کفاره د يمين کښی هم قرآن د غلام د آزادولو حکم کړے دے د قياس تقاضه دا ده چې کفاره ده

قسم دي پۀ كفاره د قتل قياس شي ، او د يو مسلمان غلام د آزادولو حكم دي اوشي ، مګر پۀ خپله د كفاره ده قسم حكم منصوصى دے او پۀ ديكښي د مطلق غلام د آزادولو حكم شوے دے چې مؤمن او كافر دواړو ته شامل دے . د دي د پاره به د قياس نه كار نه اخلو لكه پۀ روژه كښي سفر كول ، اوس د روژي ماتول جائز دي ، ليكن د مونځ پريښودل جائز نه دي ، پۀ دي باندي اجماع ده نو لهذا پۀ سفر كښي مونځ پۀ روژه باندې نه قياس كيږي ، چې كوم مقيس جوړ شوے نو دا پۀ خپله يو اجماعى حكم دے .

پۀ مقيس عليه كښي چې علت پۀ څومره درجه كښي موجود شي پۀ مقيس كښي به هم د دينه زيات يا كم از كم پۀ دغه درجه كښي موجود وي ، لكه د بالغي جينۍ پۀ خپل نفس كښي د تصرف حق داسي حاصل دے لكه پۀ خپل مال كښي ، د احنافو پۀ نزد تصرف فى النفس د تصرف فى المال سره مساوي دے ، يا د قتل ده نفس د قصاص پشان، پۀ كټ كولو د أندام هم قصاص واجب دے ، د ظلم او تعدّي چې كوم علت پۀ قتل كښي موجود دے ، دا پۀ كټ كولو د اندام كښي هم موجود دے .

## ❁د علت سره متعلق شرطونه☯

١ . داسى وصف وي چې د حكم سره مناسب وي ، يعنى د دي د وجه نه د يو شرعي مصلحت تكميل كيږي يا د يو

ضرر نه حفاظت كيږى ، لكه قران خمر ، شراب حرام ګرځولي .
نشه داسي يو صفت دے چې د حرمت د حكم سره مناسب دے ، محض د دي بهيدل يا ترش كيدل داسي وصف نه دے چې د دي د وجه د حرمت حكم اولګوؤ .
٢ . دا صفت ظاهر او محسوس وي ... لكه د معاملاتو د پاره إيجاب او قبول علت دے چې دا يو محسوس او ظاهر وصف دے د فريقين قلبى رضا مندي د معاملاتو د منعقد كيدو د پاره علت نه جوړيږي ، چې دا په يو پټ او ظاهر طور باندې غير محسوس خبره ده .
٣ . دا وصف به منضبط او معيّن وي ، د افرادو اشخاصو او د أحوالو په لحاظ سره به بدليږي ... لكه په مونځ كښي د قصر علت سفر دے . چې سفر يو متعين وصف دے ، د دى علت به مشقت نشي ګرځولے كيدلے ؛ ځكه د مشقت څه متعيّن او محدود معنى نشته .
د مختلفو خلقو او مختلفو حالاتو د وجه نه پديكښي فرق واقع كيدلے شي .

**مسالك علت :**

د يو منصوص حكم علت چې په كومو ذريعو پيژندلے شي هغي ته مسالك علت وائي ، مسالك علت په بنيادي طور باندې دري/٣ دي . ١ . نص ٢ . إجماع ٣ . او اجتهاد .

### ❁ د نص نه د علت حکم ☯

پۀ نص کښي کله صراحتًا د حکم علت ښودلے شوے وي .

لکه نبی◆ فرمائي : د پیشو د جوټي متعلق « اِنَّهَا لَيْسَتْ بِنَجَسٍ اِنَّهَا مِنَ الطَّوَّافِيْنَ عَلَيْكُمْ وَ الطَّوَّافَاتِ »

**ترجمه :** یقینا دا جوټه د پیشو نه ده ګنده او پلیته ځکه چې دا پۀ تاسو ډیر زیات ګرځیدونکي دي .

دلته اوښودلے شو چې پۀ دي حکم کښي د تخفیف علت (طواف) دے ، پۀ دي باندي فقهاء د مږي وغیره حشرات الأرض هم قیاس کړل .

❁ وَالسَّارِقُ وَالسَّارِقَةُ فَاقْطَعُوْا اَيْدِيَهُمَا ☯ (المائده /۳۷)

**ترجمه :** غلا ګر سړے او غلا ګره ښـځه کټ کړئ ښي لاسونه د دي دواړو نه ، پۀ دیکښي ګویا تصریح نیشته چي د سرقه د وجه د کټ کولو د لاس حکم دے ، مګر پۀ سارق او سارقه باندي د کټ کولو د لاس حکم لګول،دي طرف ته واضح اشاره کړے شوي ده .

### ❁ د اجماع نه د علت حکم ☯

اجماع پۀ دي خبره باندي ده چي پۀ مال باندي د ولایت حاصل ولو علت (نا بالغي) ده د بالغ پۀ مال کښي د دي ولي بغیر اجازته تصرف نشي کولے ، پۀ دی باندې نکاح

قياس كولے شي او پۀ بالغه جينئ باندي ولايت د نكاح نه دے باقي .

## ☸د اجتهاد پۀ ذريعه□اندي د علت☯

كله كله د علت تعيين مجتهد پۀ خپله رائے او اجتهاد سره كوي لكه محمد رسول الله□ پۀ سونا چاندي ، وربشو ، غنمو ، كهجورو او مالګه کښي سود حرام ګرځولے دے پۀ ديكښي احناف رحمهم الله إتحاد جنس او اتحاد قدر علت ګرځولے دے ، او بعضو ثمنيت او طعميت لره او بعضو اقتيات او ادّخار لره او پۀ كومو مالونو کښي چې دا علت جمع شي پۀ ديكښي سود حرام دے دلته فقهاء پۀ خپل اجتهاد سره علت متعين كړے دے .

### تمرين

١ . د قياس د پاره څومره شرطونه دي ؟

٢ . غلط صحيح كړئ ، د مقيس عليه متعلق ٥ ، د علت متعلق ١٣ او د مقيس متعلق ٢ شرطونه دي ؟

٣ . د مقيس عليه متعلق كوم كوم شرطونه دي ؟

۴ . څومره أحكام تعبّدي دي چې پۀ دي باندي نور قياس كيدلے شي ؟

۵ . د مقيس متعلق كوم شرطونه دي ؟\

۶ . د علت متعلق كوم كوم شرطونه دي ؟ د مثالونو نه ئي واضح كړئ ؟

٧ . مسالك علت چا ته وائي ، او هغه كوم كوم دي ؟

٨ . د اجماع نه د علت حاصلولو مثال اوښائي ؟

## ☸ استحسان ☯

استحسان د یو قوي دلیل پهٔ بناء باندي قیاس پریښدلو ته وائي ، د کوم دلیل پهٔ بناء چې قیاس پریښودلے شي پهٔ دي لحاظ باندي د استحسان شپږ قسمونه دي .

١ . استحسان بالنَّص ٢ . استحسان بالاجماع ٣ . استحسان بالعرف ۴ . استحسان بالضرورة ۵ . استحسان بالمصلحة ۶ . استحسان بالقیاس الخفي .

### ١ . استحسان□النَّص :

استحسان بالنَّص هغه دے چې پهٔ دیکښي د نص پهٔ بناء باندي قیاس پریښودلے شي لکه نبی◆ د معدوم شي د خرڅولو نه منع فرمائیلی ده د دي تقاضه دا ده چې بیع سلم جائز نه شي دلته د قیاس تقاضه ده لیکن نبی◆ فرمائیلی دي « مَنۡ اَسۡلَفَ فِیۡ ثَمَرٍ فَلۡیُسۡلِفۡ فِیۡ کَیۡلٍ مَعۡلُوۡمٍ وَّوَزۡنٍ مَعۡلُوۡمٍ اِلٰی اَجَلٍ مَّعۡلُوۡمٍ »

**ترجمه :** څوک چې بیع کوي پهٔ میوه کښي نو بیعه دي کوي پهٔ پیمانه معلومه کښي او پهٔ وزن معلوم کښي تر نیتي معلومي پوري ، د دي وجه نه د سلم پهٔ صورت کښي قیاس پریښودلے شوے دے یا د قیاس تقاضه ده چې پهٔ هیره باندې دي پهٔ خوراک سکاك روژه ماته شي ځکه

چې پۀ نص کښې پۀ مطلق أکل او شرب سره د روژې د ماتولو حکم دے .

**۲ . استحسان الاجماع :**

د قياس تقاضه ده چې د سامان د تيارئ نه مخکښې د کاريګر سره د هغه د کاريګرئ معامله طے کړې دا جائز نه دي؛ ځکه چې نبی◆ د معدوم څيز د بيع نه منعه کړې ده ، ليکن پۀ دی صورت کښې پۀ جائز والي إجماع ده د دي وجه نه مونږه قياس دلته پرېښودو .

**۳ . استحسان العرف :**

کله د عرف او عادت پۀ بناء باندې قياسی حکم پرېښودلے شي، لکه د اجارې د پاره د نفع او فائدې اوچتولو د مقدار تعيين ضروري دے. دا د دې تقاضه کوي چې د حمام اجاره صحيح نشي؛ ځکه چې پۀ ديکښې نه د اوبو مقدار متعين دے او نه دغه ځائے کښې د حصاريدولو مقدار ليکن د عرف پۀ بناء باندې جائز شو .

**۴ . استحسان الضرورة :**

پۀ قياس باندې پۀ عمل کولو کښې حرج او تنګي پيدا کيږي ، دلته به قياس پرېښودلے شي ، او دا استحسان بالضرورة دے لکه : د قياس تقاضه ده چې کوهي دے تر هغه وخته پورې پاك نشي چې د نا پاك اوبو راويستلو نه

روستو د کوهي ديوالونه اونه وينـ ځلے شي مګر پديکښي سخت تکليف دے .

د دي وجه نه د اوبو د راويستلو نه روستو د کوهي ديوالونه د پاکوالي د پاره کافي وګرځيدل، دا استحسان بالضرورة دے .

### ۵ . استحسان المصلحة :

استحسان بالمصلحة دا دے چي د مصلحت د بناء د وجه نه قياس پريښودلے شي ، د قياس تقاضه ده چي کله د کاريګر نه څه څيز ضائع شي نو دا دي د دي ضامن او ذمه دار نشي ځکه چي دے امين وي او امين چې څه څيز بغير د تعدي او ظلم نه ضائع کړي دا دي د دی ضامن نشي، ليکن ويره ده چې د دي لحاظ ساتلو د وجه نه به فائده اوچتوي پخپله زمانه کښي او بے دينه خلق به جرئت مند او زړور شی او د خلقو حقونه به ضائع کوي د دی وجه نه د مصلحت پۀ تقاضه باندې پۀ کاريګر باندې د ضائع شوي سامان ذمه وار وګرځيدو .

### ۶ . استحسان القياس الخفي :

استحسان بالقياس الخفي دا دے چي واضح قياس پۀ نسبت سره کم واضح ته ليکن د قوي قياس د وجه نه پريښودلے شي لکه شير ، شرمخ وغيره ځناور د څلوېښتو/۴۰ پښو والا ځناور جوټه نا پاکه ده ، نو ظاهر قياس دا تقاضه

کوي چې د ټپوس باز وغیره جوټه دي هم نا پاکه شی، ځکه دا هم ماتونکے ځناور دے لیکن قیاس خفي دا دے چې چونکه دا په مخوکه اوبه څکي او مخوکه د هډوکي ده د دي مرغو لُعاب لاړي د ځلورو/۴ خپو والا ځناورو پشان اوبو ته نه رسیږي چې نا پاک دي ، د دی وجه نه ددي جوټه پاکه پکار ده ، د دي وجه نه دا قیاس خفی به قبلولے شي .

## تمــرین

۱ . استحسان چا ته وائي او د دي کوم کوم قسمونه دي ؟

۲ . په حمام کښي اجاره صحیح کیدل د استحسان په کوم قسم کښي داخل ده ؟

۳ . د انساني احترام تقاضه دا ده چې د اندامونو پیوند کاري جائز نه شی مګر په دي زمانه کښي ډیر علماء د دي د جواز قائل دي دا د استحسان په کوم قسم کښي داخل دے ؟

## ☸مصالح مرسله☯

هغه مصلحتونه چې د شریعت د عمومی مزاج سره مطابقت لري ، لیکن په متعیَّن طور او طریقي باندي د دي د معتبرولو یاده نه معتبرولو په نص کښي ذکر نه وي ، لکه د سیکو جاري کول ، قید خاني ، د زمکي اخستل

او خرڅول د دي معاملات رجسټري نظام د ټريفک اصول او قواعد د د فاعي ټيکسونو نظام وغيره .

مصالح مرسله د مالکيو پهٔ نزد باندي مستقل دليل شرعي دے . د أحنافو پهٔ نزد باندې پهٔ داسي مصالح باندي عمل کول کيدلے شي ، البته پهٔ دي باندي د عمل کولو د پاره څلور/۴ شرطونه دي .

۱ . چې دا مصلحت به معقول وي يعنی دا به طبعيت سليمه قبلوي .

۲ . چې دا مصلحت به عملًا موجود وي محض وهم به نه وي .

۳ . دا مصلحت به عام وی د يو خاص شخص د مصلحت لحاظ به پکښي نه وي .

۴ . پهٔ شريعت کښي به د دی د معتبرولو صراحتًا ذکر وي ، او نه به ئي دا غير معتبر ګرځولےوي

## عــرف :

د يو فعل يا د قول د طرف نه د عامو خلقو طريقي ته عرف وائي ، پهٔ عرف کښي د حکم شرعي د متعين کولو يو لوئے أهميت حاصل دے ، او ډير زيات أحکام د عرف د وجي نه معتبرولي شي .

## د عرف□نيادي طور□اندي دوه قسمه دي

۱ . اول عرف قولي ۲ . دويم عرف فعلي پهٔ بيان او پهٔ تعبير کښي د عامو خلقو استعمال ته عرف قولي وائي لکه

پهٔ ماهي باندي د لحم او د غوښي اطلاق کول یا نه کول ، پهٔ فعل او عمل کښي د عامو خلقو طریقي ته عرف فعلي وائي ، لکه پهٔ یوه علاقه کښې د مهر یو خاص مقدار معجلا أدا کیږي .

## پهٔ اعتبار د وسعت سره عرف پهٔ دوه قسمه دے

اول عرف عام ، دویم عرف خاص د مخلتفو علاقو د عامو خلقو عرف او طریقي ته عرف عام وائي ، لکه د طلاقو د پاره لفظ د حرام استعمالول ، د یو خاص علاقي یا یو خاص پیشي او طبقي ته عرف خاص وائي لکه د أهل عراق عرف دے چي أس ته دآبّه وائي .

## د عرف معتبر والے او نه معتبر والے هم پهٔ دوه قسمه دے

اول عرف صحیح ، او دویم عرف فاسد .

عرف صحیح د خلقو هغه طریقه ده چې د نص یا د اجماع نه خلاف نه وي لکه د استصناع پهٔ معاملاتو کښي څه رقم د هغه پیش کول بلکه دعربو پهٔ بعضي علاقو کښي زنانه هغه وخت رخصت کیږی او د خاوند کور ته ځي، چي کله د هغه د مهر نه څه حصه وصول کړی .

**عُرف فاسد :**

د خلقو هغه طریقه ده چي د دینه حرام حلالول یا حلال حرامول لکه پهٔ بینک کښي فکسډډ ډپازټ کول یاد سړو او د ښـځو پهٔ عام جلسو کښي اختلاط وغیره .

عرف صحيح معتبر دے او عرف فاسد معتبر نه دے .

**شرائط :**

د عرف د معتبر والي د پاره ځلور/۴ شرطونه دي
.

۱ . په عرف باندي د عمل كولو د وجه نه هيڅ يو نص به معطّل كيږي نه، لكه شراب څكل ، د زنانؤ ځانله سفر ، د دي ممانعت وغيره . دا عادتونه د نصوصو صريح مخالف دي .

۲ . عرف به د صراحت خلاف نه وي لكه د بعضي أشياء په خرڅولو كښي دا عرف دے، چي د سامان په رسولو كښي چي كوم اخراجات وي هغه بائع اوچتوي، كه چرته د معاملي په وخت كښي بائع د دي خلاف صراحت اوكړى نو دا عرف معتبر نه دے .

۳ . عرف به د معاملي په وخت باندي وي لكه بعضي څيزونه په قسطونو باندي د خرڅولو عرف وي ، ليكن داسي اوشو چي كله معامله اوشوه په دغه وخت كښي دا صورت مروَّج نه وو، روستو په قسطونو باندې ده ادائيګئ عرف معتبر نه دے .

۴ . عرف به جاري وي يعنى هميشه به دغه عرف وى .

**تمـــرين**

۱ . د مصالحُ مرسلوو نه كوم مصلحتونه مراد دي ؟

۲ . د داسی مثال نه ئي بيان کړئ چې ستاسو پهٔ زمانه کښې هغه موجود وي ؟
۳ . د وسعت پهٔ اعتبار باندې د عرف څو قسمونه دي ؟
۴ . د عرف د معتبر والی د پاره کوم کوم شرطونه دی ؟
۵ . نن سبا عام طور خلق د ميؤو د پخيدلونه مخکښې ميوه خرڅوي حالانکه حديث کښې د دي بيع نه منعه راغلي ده نو آيا دي عرف لره اعتبار شته دے .

## سدِّ ذرائع :

هغه جائز أفعال منع کول چې پهٔ شريعت کښې منعه شوي وي، يعني چې پهٔ شريعت کښې د منعه شؤو خبرو ذريعه جوړيږي، د ذرائع څلور/۴ درجي دي .

۱ . دا چې دا کار يقينی طور باندې د يو فساد ذريعه وي لکه د چا ده دوازي مخي ته کوهے ايستل .

۲ . دا چې پهٔ دی کار کښې د فساد د جوړيدلو د ذريعي غالب گمان وي لکه پهٔ شرابي د انگورو رس او يا پهٔ اهل حربو باندې أسلحه خرڅول . دا دواړه ذرائع بالکل نا جائز دي .

۳. دا چې د دې کار نه فساد پيدا کيدل وهمي وي او کله کله اتفاقًا د دې نه فساد هم پيدا شي لکه د يو کس پهٔ نا مناسب ځائے کښې کوهے کنستل چې پهٔ دې کښې د چا غورځيدل او ډوبيدل وهمي خبره وي دا ذريعه جائز ده .

۴ . دا چې د دې نه پهٔ کثرت سره فساد پیدا کیږي، حالانکه أصل کښې دا جائز او مشروع وي لکه د حلالې نکاح پهٔ مرض موت کښې طلاق وغیره د أحنافو پهٔ نزد باندې دا صورت پهٔ قصد او اراده باندې موقوف دے. که چرته د فعل حرام د پاره حیله اختیارول مقصود وي نو دا نا جائز دے ورنه جائز دے د مالیکو پهٔ نزد باندې داسې قسم درجه هم نا جائز ده .

## شرائع ما قبل :

د اولنو أسماني کتابونو هغه احکام چې پهٔ حالت موجوده باندې پهٔ هغه کتابونو کښې موجود وي، او قران او حدیث کښې د هغې ذکر نیشته د هغوئ هیڅ اعتبار نیشته، د دې وجه نه دا محرّف کتابونه دې البته د مخکښنو امتونو د پاره چې کوم احکام پهٔ کتاب او سنت کښې موجود دې هغه درې قسمه دې .

۱ . هغه دې چې د هغې پهٔ منسوخ والې باندې صراحت موجود وي لکه ﴿وَ عَلَى الَّذِيْنَ هَادُوْا حَرَّمْنَا كُلَّ ذِىْ ظُفُرٍۚ وَ مِنَ الْبَقَرِ وَ الْغَنَمِ حَرَّمْنَا عَلَيْهِمْ شُحُوْمَهُمَاۤ اِلَّا مَا حَمَلَتْ ظُهُوْرُهُمَاۤ اَوِ الْحَوَايَاۤ اَوْ مَا اخْتَلَطَ بِعَظْمٍؕ ذٰلِكَ جَزَيْنٰهُمْ بِبَغْيِهِمْ٘ۖ وَ اِنَّا لَصٰدِقُوْنَ۝۱۴۶﴾(سورة الأنعام/۱۴۶) .

**ترجمه :** او پهٔ هغه کسانو چې یهودیان وو حرام کړي وو مونږه ، هر نوکونو والا او د غواګانو نه او د ګډو بیزو نه ، حرام کړي مونږه پهٔ دوئي باندې وازدې د هغې مګر

هغه چې بار کړی وي شا ګانو د هغوئ او يا هغه چې ګيره ئي اچولي وي پۀ کلمو باندې پرېنګونو د هغوئ او يا هغه چې خلط شوي وي د هډوکو سره دغه بدله مونږه ورکړه دوئ ته پۀ سبب دسرکشئ د دوئي ، او يقينا مونږه خامخا رشتوني يو .

۲ . دويم هغه دی چې د دې امت د پاره ئي د باقي والي تصريح کړي وي لکه : ﴿يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُوْنَ﴿۱۸۳﴾﴾(سورة البقرة/۱۹۳) .

**ترجمه :** اے ايماندارو ! فرض شوی دی پۀ تاسو باندې روژې نيول، څنګه چې فرض شوی وي پۀ هغه کسانو چې مخکښې ستاسو نه وو دې د پاره چې پرهيزګاره شئ . دا أحكام پۀ امت کښې بالاتفاق باقي دی

۳ . هغه دې چې پۀ هغي کښې نه د نه باقي والي صراحت وی، او نه ده منسوخ والي لکه : ﴿وَ كَتَبْنَا عَلَيْهِمْ فِيْهَآ اَنَّ النَّفْسَ بِالنَّفْسِ﴾(سورة المائده/۴۵) .

**ترجمه :** او فرض کړی وو مونږه پۀ دوئ باندې پۀ تورات کښې چې نفس به وژلے شي پۀ بدله د نفس کښې .

داسی أحكام د جمهورو پۀ نيز د دې امت د پاره باقي دې لکه :﴿هٰذِهٖ نَاقَةٌ لَّهَا شِرْبٌ وَّ لَكُمْ شِرْبُ يَوْمٍ مَّعْلُوْمٍ﴿۱۵۵﴾﴾(سورة الشعراء/۱۵۵ .) .

**ترجمه :** دا اوښه د الله ده ، دې لره نمبر د اوبو دے او تاسو لره نمبر د اوبو د ورځي معلومي دے .
د دې نه استدلال کړے شوے دے ، چې نا قابل تقسيم مشترك اشياء دا به په مهاياة ذريعه باندې تقسيمولے شي ، چې مالکان د دې نه بيا بيا فائده اچتوي .

## تمـــرين

١ . سدّ ذرائع څه ته وائي ؟
٢ . د ذرائع څومره درجات دې او د کومي درجي څه حکم دے ؟
٣ . د زنانوو مخ کولاوهل د فتنے باعث جوړيږي ستاسو په خيال باندې دا د کومې درجې ذريعه ده او په دې باندې کوم حکم مرتب کيږي ؟
۴ . په بائبل کښې چې کوم أحکام په کتاب او سنت کښې ذکر نه دی د هغی کوم حکم دے ؟
۵ . داسي مثالونه پيش کړئ چې په قرآن کريم کښې د مخکښنو قومونو يو حکم نقل شوي وي او د هغي د باقي والي يا د منسوخ والي ذکر نه وی شوے .

## ☸قول صحابي☯

**صحابي :**
هغه دے چې هغه ته د محمد◆ د ملاقات شرف حاصل شوے وي ، چونکه صحابوو رضى الله عنهم د نبى◆

سره صحبت شوی وو . د نبی◆ افعال او اقوال ئي پخپله ليدلي وو ، او د شريعت د مزاج نه زيات خبردار وو ، د دي د وجه نه اقوال صحابه ته خصوصی حيثيت حاصل دے . أقوال صحابه پۀ دوه/٢ قسمه دی .

١ . داسي اقوال چي پۀ هغي کښي اجتهاد او رائے لره هيڅ دخل نه وی، لکه د حضرت علی◆ ارشاد دے چي « لَا جُمُعَةَ وَلَا تَشْرِيْقَ اِلَّا فِىْ مِصْرِ جَامِعٍ » نه دے د جُمُعَي او اختر مونځ مگر پۀ يو جامع مسجد کښي ، د أحنافو د اکثر فقهاء پۀ نزد باندي دا د حديث نبوی❒ پۀ حکم کښي دے، ځکه چي غالب گمان دا دے چي د صحابه کرامو رضی الله عنهم دا اقوال د حضور اقدس❒ پۀ احاديثو باندي مبنی دي ، د شوافعو پۀ نزد باندي دا حجت نه دے .

٢ . داسي اقوال چي پۀ هغي کښي د رائے او اجتهاد گنجائش وي، که چرته دا اقوال د کتاب او د سنت د يو نص سره متعارض وی نو حجت نه دے، که چرته د صحابوو رضی الله عنهم پۀ دي مسئله کښي اختلاف وی نو بيا هم حجت نه دے ، که چرته د نص سره متعارض نه وي او ديو صحابی نه د دی خلاف نقل شوي نه وي ، يا پۀ دی مسئله کښي د يو صحابي نه واضحه رائے مروی نه وي نو دا اقوال د أحنافو پۀ نزد باندي حجت دے .

## ﴿استصحاب﴾

هيڅ يو وجه د تغير د مخکښې، نه راتلو د وجه نه مخکښې حکم بر قرارساتلو ته استصحاب وائي ، لکه يو کس پهٔ اودس باندې دې او د دې د اودس پهٔ باقي والي کښې شک راغے نو د ده د اودس د باقي والي حکم به لګولي شي ، د حنابلوو پهٔ نزد باندې دا مستقل دليل شرعي دے پهٔ استصحاب کښې بنيادي طور باندې درې/٣ صورتونه دي .

١ . پهٔ اشياء باندې د اصل حکم يعنی پهٔ اباحت باندې باقي پاتي کول تر څو چې يو دليل د ممانعت نه وي راغلے لکه د الله رب العزت ارشاد دے ﴿هُوَ الَّذِیْ خَلَقَ لَكُمْ مَّا فِی الْاَرْضِ جَمِیْعًا﴾(سورة البقرة/٢٩ ).

ترجمه الله هغه ذات دے چې پيدا کړي دې ستاسو د فائدې د پاره هغه چې پهٔ زمکه کښې دې ټول . لهذا پهٔ اشياء کښې اصل اباحت دے .

٢ . پهٔ کومو څيزونو کښې چې د يو خبري نه موجوديدل اصل دے نو پهٔ هغه کښې دا پهٔ عدم باندې باقي منل ، ذمه بري کول أصل دی ، نه پهٔ ذمه باندې مشغولول د دېد وجه نه د يو دليل پهٔ عدم موجودګئ کښې انسان فارغ الذمه منل لکه يو کس پهٔ بل کس باندې دقرض دعوی وکړي .

او دا دويم کس د دې نه انکار کوي نو پهٔ دې دويم کس باندې به د قرض حکم تر هغه وخته پورې نشي لګولي

چې کله په دی باندل دليل پيش نه کړي ، د دې وجه نه أصل « براءت ذمه » دے .

۳ . د يو حکم د ثبوت د پاره چې شريعت کوم سبب مقرر کړي دے د دې سبب د موجوديدلو د ثبوت نه روستو دا حکم به تر هغه وخته پوري مشروط منلي شی چې کله د دې سبب په فوت کيدلو باندې يو دليل رانه وړي ، لکه په عقد نکاح سره زوجيت ثابتيږي چې کله د جدا والی ثبوت نه وي نو تر هغه وخته پوري به نکاح باقي ګڼړلے کيږي إستصحاب هغه وخت معتبر دے چې کله بل يو دليل موجود نه وي ، د أحنافو په نزد باندې استصحاب د حقوقو دپاره دافع خو جوړيږي ليکن مثبت نه جوړيږي لکه يو کس ورک شوے وي او د مرګ دليل ئي نه وي راغلے نو دا به ژوندے ګڼړل کيږي ، او د دې په مال کښې د ورثاؤ حق ثابتيږي البته که دا ورک شوي مورث مړ شو نو د مورث په پاتی شوي مال کښې به دا مفقود د وراثت حقدار هم نه وي .

## تمـرين

١ . صحابى چا ته وئيلے شي ؟
٢ . أقوال صحابه څومره دي او کوم کوم دی او حکم ئي څه دے ؟
٣ . د استصحاب تعريف سره د مثال نه وکړئ ؟
۴ . استصحاب کله معتبر دے ؟
۵ . استصحاب د حقوقو د پاره دافع دے مثبت نه دے ، په مثال کښې ځان پوهه کړئ ؟

## ❁احکام شرعيه☯

### حكم :

حکم هغه دے چې په ديکښې د انسان د أعمالو هغه وصف متعين وي چې کوم شريعيت بيان کړے وي ، مثلا يو عمل ته ئي واجب ، فرض ، يا حرام ، يا مکروه وئيلى دي .

د حکم دوه/٢ قسمونه دي . ١ . حکم تکليفي ٢ . حکم وضعي .

### ١ . حكم تكليفي :

هغه دے چې په ديکښې د يو فعل مطالبه يا ممانعت يا ديو کار د کولو او د نه کولو اختيار موجود وي .

### ٢ . حكم وضعي :

هغه دے چې پهٔ ديکښې د يو څيز د دويم څيز د کولو يا د نه کولو د معتبر والی سره تعلق وي ، د دې پنـځه/۵ قسمونه دي .
(۱) علّت (۲) سبب (۳) شرط (۴) علامت (۵) مانع پهٔ دې اول څلور/۴ قسمونو کښې د يو څيز د حکم د ثابتولو تعلق وي او پهٔ پنـځم صورت کښې د يو څيز د حکم د نه ثابتولو تعلق وي ، انشاء الله تاسو به راروانو کتابونو کښې د دې احکاماتو تفصيل ولولئ .
حکم تکليفي اووه/۷ أقسام دي . فرض (۲) واجب (۳) مندوب (۴) حرام (۵) مکروه تحريمي (۶) مکروه تنزيهی (۷) مباح .

**۱ . فـرض :**

هغه ته وائي چې د هغې کول ضروري وي او پهٔ دليل قطعی باندې ثابت وي لکه پهٔ مونځ کښې قراءت پهٔ دې باندې عمل ضروري دے ، پهٔ عمل باندې ثواب او پهٔ پريښودلو باندې ګناه ده ، او د مناسب تأويل نه بغير د دې نه انکار کول کفر دے .

**۲ . واجب :**

هغه دے چې د دی کول ضروري وی او دا پهٔ دليل ظنّی سره ثابت وي لکه پهٔ مونځ کښې سورة الفاتحه، د دې د تلاوت حکم، پهٔ دې باندې عمل ضروري دے ، پهٔ عمل باندې ثواب او پهٔ پريښودلو باندې ئي ګناه ده ، ليکن

انکار ترینه کفر نه دے ، هغه تمام أعمال چې د هغی ضروري کیدل پۀ خبر واحد یا قیاس سره ثابت وي یا د قرآن د داسي آیات نه ثابت وي چې پۀ دې کښې د یو نه د زیاتو معانی گنجائش وي واجب ورته وئیلے شي .

### د فرائضواو د واجباتو دوه/۲ قسمونه دي

۱ . عیني ۲ . کفائي .

### ۱ . فرض عیني :

هغه فرائض او واجبات دي چې پۀ أشخاصو أفرادو باندې پۀ انفرادي حیثیت باندې واجب وي لکه مونځ ، روژه ، حج ، زکوٰة ، وغیره .

### ۲ . فرض کفائی :

هغه فرائض او واجبات دي چې پۀ اجتماعي حیثیت باندې واجب وي که چرته څه خلق پرې عمل اوکړي نو د نورو نه پۀ نه عمل کولو باندې هغه گناه اوچتیږي لکه د جنازې مونځ ، د دین تفصیلي علم حاصلول ، جهاد او قضاء وغیره .

فرائض او واجبات د وخت پۀ اعتبار باندې پۀ دوه قسمه دي ۱ . مطلق ۲ . مقیّد .

**مطلق** : مطلق هغه دے چې د دې د پاره شریعت یو وخت نه وي مقرر کړے لکه کفارات دا کله کله أدا کولے شي دیته أدا هم وئیلے کیږی .

**مقيد :** دا دے چې د دې د پاره شريعت وخت مقرر کړے وي ديته فريضه مؤقته هم وائي لکه مونځ روژه چې کله دا پۀ وخت باندې أدا نه شي نو ديته قضاء وئيلے کيږي .
د حج د پاره وخت مقرر دے ليکن چونکه دا پۀ عمر کښې يو ځل فرض دے د دې د وجه نه دا چې کله أدا شو نو أدا ورته وئيلے کيږي .

**٣ . مندوب :**

هغه دې چې کول ئې مطلوب وى ليکن ضروري نه وي او نه د دى پۀ پريښودو باندې څه مذمّت وي . د مندوب دري/٣ قسمونه دې (١) سنت مؤکده (٢) سنت غير مؤکده (٣) مستحب .

**سنّت مؤکده :**

هغه دے چې پۀ دى سره د يو واجب تکميل وي لکه آذان او جماعت يا نبى◆ پۀ دې باندې هميشوالے کړے وي .
او کله کله ئې پريښودے وى لکه پۀ اودس کښې پوزي ته اوبه غورځول يا د فرائضو نه مخکښې مؤکدات شو ديته سنت هُدٰى هم وائي د دې د پريښودونکو به پۀمائش کيږي ، سرزنش به ئې نه کيږي او د دې پريښودل مکروه او باعث د گناه دې فقهاء ليکلى دې چې د دى د وجه نه د شفاعت نبوي❐ نه محرومو والي راځي .

**غير مؤکَّدَه :**

هغه دی چې پهٔ دې باندې نبی◆ همیشوالے نه وي کړے لکه پهٔ بعض مونـ ځونو کښې اوګد قرأت کول ، هر د نیکۍ کار د ښی طرف نه شروع کول وغیره ، د دی پهٔ کولو باندې ثواب او پهٔ نه کولو باندې ګناه نیشته ، دیته نفل او مستحب هم وئیلے کیږی او کله کله فقهاء صرف دې صورت ته مستحب وائي .

## سنَّت زائده :

چې کوم کارونه نبی◆ عادتًا کړي وي هغي ته سنت زائده وائي لکه نبی◆ د خوراک څښاک طریقه خوب استراحت د ناسته ، ولاړی انداز دیته آداب هم وائي

عام طور باندې د دی پهٔ مستحب والي باندې تعبیر کولے شي که چرته پهٔ دې أفعالو کښې د نبی◆ د اتباع نسبت وي ، نو ثواب دے او که چرته نه وي نو نه باعث د ګناه دے او نه باعث د ګرفت .

## تمــرین

١ . د حکم تعریف اوکړئ ؟
٢ . د حکم تکلیفي کوم کوم أقسام دي ؟
٣ . د فرضو او واجباتو کوم حکم دے ، او پهٔ دیکښې څه فرق دے ؟
۴ . فرض ، واجب د دې أقسام سره د مثالونو نه تعریف اوکړئ ، عیني ، کفائي ، مطلق ، مؤقت ؟
۵ . سنت مؤکده او غیر مؤکده کښې څه فرق دے ؟

۶ . سنت زائده څه ته وائي او د دې دويم نوم څه دے ، په دې باندې ثواب شته يا نيشته ؟

**۴ . حرا : **

هغه دې چې د دې نه کول ضروری وي او دا په يقيني دليل باندې ثابت وی ، لکه زنا ، غلا ، سود د دې پريښودل ضروری دې او د قدرت باوجود د دې په پريښودلو باندې ثواب دے ، د إضطراری کيفيت نه بغير د دی کول باعث د ګناه دے ، او د مناسب تأويل نه بغير انکار کفر دے .

د حرامو دوه/۲ قسمونه دي ۱ . حرام لعينه ۲ . حرام لغيره .

**حرا لعينه :**

هغه دے چې پخپله دننه په دېکښې داسی صفت موجود وي چې ددې د وجه نه ديته حرام وئيلے شوي وي لکه د سود د أخستلو حرمت د شرابو حرمت .

**حرا لغيره :**

هغه دے چې د دې ممانعت د يو خارجي سبب په بناء وی لکه بغير د اجازت نه د بل چا د مال د اخستلو ممانعت د ورکولو حرمت؛ ځکه قرض داري د خپل طرف نه که د څه اضافي سره قرض واپس کوي دا ګناه نه ده بلکه بهتره ده ، ممانعت د دې سبب د وجه نه دے چې د دې د وجه نه د سود خورو حوصله أفزائي کيږي . که چرته د

سود ورکولو والا نه وي نو بيا د سود خورو کاروبار نه چليږی .

**۵ . مکروه تحريمی :**

هغه دے چې د دی پريښودل ضروري وی ، ليکن دا په يقيني دليل سره ثابت نه وي بلکه په دليل ظنَی سره ثابت وي ، لکه د استنجاء په وخت کښې قبلے طرف ته مخ کول يا شا کول .

د مکروه تحريمي نه بچ کيدل واجب دي بغير د عذر نه د دې مرتکب کيدل د گناه باعث دے او د دې نه انکار کول گمراهي ده ، ليکن کفر نه دے ،هغه تمام اعمال چې د هغې ممانعت په خبر واحد يا قياس سره ثابت وي يا د قرآن د داسي آياتونو نه ثابت وي چې په هغې کښې د يو معني نه د زياتو گنجائش وي مکروه تحريمي دے که چرته د فقه په کتاب کښې مطلقًا مکروه ليکلي وي نو أکثر د دېنه مکروه تحريمي مراد وی .

**۶ . مکروه تنزيهي :**

هغه دے چې د هغې د نه کولو مطالبه شوي وي ، ليکن د دې پريښودل لازم نه وي گرځولےشوي لکه په ولاړه باندې اوبه څکل ، په ولاړه باندې تشي متيازي کول د دې نه بچ کيدل مدحه او د ثواب باعث ده او د دې کونکے سبب د ملامتيا او د عتاب وی په بعض أوقاتو کښې مکروه تنزيهي ته خلاف اولی هم وئيلے کيږي ، او د

بعض حضراتو خیال دے چې د خلاف اولی درجه د مکروه تنزیهی نه هم کمه ده ؛ ځکه چې د مکروه تنزیهي کونکے د ملامتیا او د عتاب مستحق دے اوپهٔ خلاف اولی مرتکب باندې د ملامتیا او د عتاب ګنجائش هم نیشته .

## ۷ . مباح

د مباحو نه مراد هغه أفعال دي چې د دې د کولو او د نه کولو بنده لره اختیار وي لکه خوراک څکاك وغیره .
د دې کول او نه کول برابر دی نه یو طرف کښې ثواب دے او نه ملامتیا او یا ګناه ، ألبته د نیت پهٔ اعتبار باندې ثواب او عذاب مرتَب کیږي ، لکه خوراک د دې وجه نه کول چې طاقت به راپکښې پیدا شي نو عبادت به اوکړم نو پهٔ دی باندې ثواب دے ، او که چرته دا طاقت د ظلم دپاره استعمال شي او دا نیت پکښې اوشی نو بیا ګناه ده د کوم یو کار د مباح والی چې پهٔ (قران ، حدیث متواتر ، اجماع) سره ثابت وي د دینه انکار کول باعث د کفر دے لکه نکاح او د خوراک د مباح والی نه انکار ، مباح ته جائز هم وئیلے شي .
لیکن پهٔ دواړو کښې فرق دا دے چې جائز د مکروه سره جمع کیدلے شي او مباح د مکروه سره نشي جمع کیدلے ، یعنی چې کوم فعل مباح وي هغه به بغیر د کراهت نه جائز وي .

او جائز کله مکروه وی او کله مکروه نه وي لکه خوراک کول مباح دي او په ولاړه باندې اوبه څکل جائز دي .

## تمــرين

١ . د حرامو تعريف اوکړئ او د دی حکم بيان کړئ ؟
٢ . حرام لعينه او حرام لغيره کښی څه فرق دے دا اوښائي او د مثالونو نه ئي واضحه کړئ چې کوم په کتاب کې ذکر نه دے ؟
٣ . د مکروه تحريمی او د مکروه تنزيهی تعريف او حکم بيان کړئ ؟
۴ . که چرته مطلق مکروه ليکلے شوي وي نو د مکروه نه کوم صورت مراد دے ؟
۵ . مکروه تنزيهی او خلاف اولي يو دے يا په دواړو کښې فرق دے ، کومو خلقو چې فرق کړے دے نو د هغوئ په نزد باندې د دی دواړو په مينځ کښې فرق دے ؟
۶. مباح چا ته وائي او د دې حکم څه دے ؟
٧.آيا په مباح افعالو باندې ثواب او يا عذاب شته دے ؟
٨ . د مباح نه انکار کول کله باعث د کفر دی ؟
٩ . د مباح او د جائز په مينځ کښې څه فرق دے ؟

## عزيمت او رخصت

د مكلّف د حالاتو پۀ اعتبار باندې د حكم دوه/٢ قسمونه دي . ١ . عزيمت ٢ . رخصت .

### ١ . عزيمت :

أصل حكم چې د عامو حالاتو د پاره وي ديته عزيمت وائي ، لكه پۀ رمضان المبارك كښې روژه نيول د ماسپخين او د مازيگر او د ماسخوتن څلور/۴ ركعته أدا كول،پۀ فرض مونځونو كښې قيام دا فرض دې .

### ٢ . رخصت :

رخصت هغه حكم دے چې د يو عذر يا د عارض د خبرې د راتګ د وجه نه اوشي لكه د مريض او د مسافر د پاره پۀ رمضان المبارك كښې روژه نه نيول او د سفر پۀ حالت كښې د ماسپخين او مازيگر او د ماسخوتن صرف دوه ركعتونه باندې إكتفاء كول وغيره د دې اجازت دے .

د دې اجازت دے پۀ عزيمت باندې عمل كول أفضل دې پۀ دې شرط باندې چې كله د جان او د نفس ويره نه وى ، لكه د مريض او مسافر د پاره روژه نيول كه چرته د جان د تګ خطره (مرګ) وي ، نو بيا پۀ عزيمت باندې عمل كول جائز نه دى بيا پۀ رخصت باندې عمل كول واجب دي ألبته د دينه يو صورت مستثنى دے ، چې د جان د

ويري د وجه نه کلمه د کفر جائز ده ، دا حکم رخصت دے د دې پهٔ مقابله کښې خپل نفس ختمول او کلمه د کفر نه وئيل عزيمت دے .

او دلته پهٔ عزيمت باندې عمل کول اولی دې اګر که د نفس د ختميدلو خطره ولي نه وي پهٔ رخصت باندې عمل کول جائز او خلاف اولی دې . د دينه هغه يو صورت مستثنی دے او هغه دا دے چې پهٔ سفر کښې دوه/۲ رکعته مونځ کول رخصت دے ليکن د فقهاء احنافو پهٔ نزد باندې د بعض احاديثو د وجه نه پهٔ سفر کښې د څلور/۴ رکعتو والا مونځ دوه رکعته کول واجب دې څلور/۴ رکعته کول صحيح نه دې .

## تمـــرين

۱ . د عزيمت او د رخصت تعريف اوکړئ ، او پهٔ مثالونو سره ئي واضح کړئ ؟

۲ . د عزيمت څه حکم دے او د دی د عمومي حکم نه کوم يو صورت مستثنی دے ؟

۳ . د رخصت څه حکم دے او کوم يو صورت د دې عمومی حکم نه مستثنی دے ؟

## ☸د أحكامو د استنباط طريقي احكام شرعيه☯

قرآن مجيد پۀ عربی مبين باندې نازل شوے دے ، او رسول الله❐ د دې تشريح کړي ده او د خپل قول او عمل پۀ ذريعه ئې د دې تفصيل کړے دے ، چونکه نبی◆ پۀ خپله نسلًا عربي وو او د نبی◆ زبان مبارك هم عربی ده د دې وجه نه د نبی◆ أحاديث هم پۀ عربئ کښې دي ، نو پس د قرآن او احاديثو نه د احکامو د أخذ او استنباط د پاره د دې قواعدو او قوانينو علم ضروري دے ، چې د هغې پۀ ذريعه باندې پۀ عربئ ژبه کښې أحاديث هم پۀ عربئ کښې دي ، نو پس د قرآن او احاديثو نه د احکامو د أخذ او استنباط د پاره د دې قواعدو او قوانينو علم ضروري دے ، چې د هغي پۀ ذريعه باندې پۀ عربئ ژبه کښې د متکلم پۀ مقصد باندې پوهيدل او پۀ دې باندې ځان پوهه کول .

دې قواعدو لره اصولينو د فقهی د پنـځه/۵ بنيادې تقسيم پۀ ذريعه واضح کړي دې .

١ . اول د وضع پۀ اعتبار باندې .
٢ . لفظ د خپل معنی د استعمال پۀ اعتبار سره .
٣ . د معنی د ظهور او د وضاحت پۀ اعتبار سره .
۴ . پۀ معنی کښې د خفاء او د ابهام پۀ اعتبار سره .

۵ . په معنی باندې د دلالت په اعتبار سره لفظ چې د کوم قسم معنی د پاره وضع کړے شوے دے په دې اعتبار باندې د دې څلور/۴ قسمونه دې .

۱ . عام ۲ . خاص ۳ . مشترك ۴ . مؤول .

**۱ . خـــا □ :**

خاص هغه دے چې په یو یا د یو نه په زیاتو باندې دلالت کوي چې محدود او محصور وي لکه رشید، انسان، ثلاثه عشره وغیره خاص په خپله معنی باندې په یقینی طریقی سره دلالت کوي یعنی دا بیان وضاحت ته محتاج نه وي ، او نه د دویمي معنی احتمال لري . مثلًا د کفاره د قسم په باره کښې ارشاد دے .﴿فَكَفَّارَتُهُ إِطْعَامُ عَشَرَةِ مَسَاكِينَ﴾(سورة المائده/۸۹) .

**ترجمه :** کفاره د دې خوراک ورکول دی لس/۱۰ مسکینانو لره .

دلته طعام او عشره خاص دے او د دې معنی محتاجه بیان ته نه ده ، د کتاب الله په خاص کښې د خبر واحد په وجه باندې د اضافي ګنجائش نیشته دے لکه الله تعالی د رکوع او د سجدې حکم کړے دے رکوع او سجده خاص دي چې د هغی مراد واضح دے .

په خبر واحد سره معلومه شوې ده چې په دیکښې اعتدال هم ضروری دے څکه یو صحابي بغیر د تعدیل د أرکانو

نه مونځ وکړو نو نبی◆ ورته فرمائی چې « اِرْجِعْ فَصَلِّ فَاِنَّكَ لَمْ تُصَلِّ » واپس شه مونځ اوکړه تا مونځ نه دے کړے.دا چونکه خبر واحد دے نو د دې د وجه نه په رکوع سجده کښې د رکوع او سجدې سره سره اعتدال ئې د رکن د مانـځه نه ګرځولے دے .

دغه رنګه په اودس کښې د مخ وینـځل د لاسونو وینـځل د سر مسح او د خپو د وینـځلو حکم شوے دے .

د دینه دا معلومه شوه چې دا ټول افعال د اودس أرکان دي مګر د خبر واحد نه معلومه شوه چې په اودس کښې نیت ، بسم الله وئیل او پے در پے د أندامونو وینـځل هم ضروري دي نو لهذا دې أفعالو ته د اودس أرکان وئیل صحیح نه دي چې د دې په وجه باندې د کتاب الله په خاص باندې مونږه اضافه لازمه کړو .

## تمــرین

١ . د خاص حکم څه شے دے ؟

٢ . د خبر واحد په وجه باندې د کتاب الله په خاص باندې زیادت کیدلے شي یا نشي کیدلے ؟

٣ . قرآن مجید نه کم از کم لس/١٠ داسي الفاظ راوباسئ چې خاص وي ؟

## څلور􀀀 أهم قسمونه

د خاص څلور/۴ اهم قسمونه دي (١) مطلق (٢) مقيّد (٣) أمر (۴) نهی .

۱ . مطلق :

هغه دے چې په خپل حقيقت بغير د يو قيد نه دلالت کوي لکه کتابٌ ، رجُلٌ ، مَسْجِدٌ ، وغيره .

د مطلق حکم دا دے چې دا په خپل اطلاق باندي قائم وي تر دې پوري چې په دې باندې يو قوي دليل په يو قيد ملحوظ کولو باندې قائم شي لکه د الله تعالى ارشاد دے « فَعِدَّةٌ مِّنْ أَيَّامٍ أُخَرَ »

**ترجمه :** پس لازم دے در باندې شميرل د ورځو نورو نه .

په ديکښې أيام مطلق دے لهذا د رمضان نه ورستو چې څومره ورځې مسلسل او غير مسلسل دې ، په دواړه قسمه باندې قضاء راتللے شي ، تسلسل ضروري نه دے ، د کتاب الله په مطلق باندې د خبر واحد د وجه نه يو قيد اضافه کولے نه شي .

۲ . مقيَّد :

مقيّد هغه لفظ دے چې په ديکښې صفت اضافت يا بل شانته قيد ولګولے شي لکه رجُلٌ مؤمنٌ ، ولدُ الفقير وغيره .

حکم :

د مقيد حکم دا دے چې په دې مذکوره قيد کښې د رعايت سره سره عمل کول واجب وي مثلا د الله تعالى ارشاد دے .

﴿فَمَنْ لَّمْ يَجِدْ فَصِيَامُ شَهْرَيْنِ مُتَتَابِعَيْنِ مِنْ قَبْلِ اَنْ يَّتَمَاسَّا﴾(سورة المجادلة/۴)

**ترجمه :** پس هغه څوک چې نه بيا مومي نو روژي د دوؤ/۲ مياشتو پرله پسې مخکښې د يو بل مسه کولو نه .
په دې آيت کښې د کفاره د ظهار په ورځو کښې تتابع او د جماع نه مخکښې قيد لګولے شوے دے ، د دې وجه نه د جماع نه مخکښې د دې روژه مسلسل نيول ضروری دي .

### آيا مطلق په مقيّد□اندې محمول کيدلے شي؟

يو لفظ په يو نص کښې مطلق او په دويم نص کښې د قيد سره ذکر کولے شي ، که چرته د دې نصوصو تعلق د حکم د سبب سره وي نو د أحنافو په نزد باندې يو په دويم باندې نشي محمول کيدلے لکه د نبی◆ ارشاد دے « اَلْجَارُ اَحَقُّ بِسَقَبِهِ [1]»
ګاونډي دا ډير حق دار دی په شفعه سره .
په دې روايت کښې دي « اَلْجَارُ بِشُفْعَةِ جَارِهِ يَنْتَظِرُ بِهَا اِنْ كَانَ غَائِبًا اِذَا كَانَ طَرِيْقُهُمَا وَاحِدًا »

[1] رواه ابن ماجه باب الشفعة بالجوار جلد/ ۲ ص/۱۷۹ . ۱۲

**ترجمه :** ګاونډي دا ډېر حق دار دی په شفعه د ګاونډي باندې انتظار به کوی د دې شفعه که چرته دا ګاونډي غائب وي خو په دې شرط چې کله د دې دواړو لاره یوه وي ، یعنی جوار سبب د شُفعي دے په دې شرط باندې چې د دواړو لاره یوه وي پس د دی دواړو نصوصو تعلق د سبب حکم سره دے .

په اول دلیل کښې جوار مطلق دے او په دویم حدیث کښې د وحدت طریق د یووالي د لارې قید دے نو د امام ابو حنیفه رحمه الله په نزد باندې مطلق په مقید باندې نشي حمل کیدلے بلکه جوار په خپل ځائے باندې د شفعي سبب دے او د شرکت فی الطریق یعنی د شریك والي په لاره کښې یو دویم سبب شفعه ده .

او که چرته د مطلق او د مقید دواړو نصوصو تعلق حکم سره وي نو څلور/۴ حالتونه دی .

۱ . حکم او سبب د دواړو یو وي نو بالاتفاق به مطلق په مقید باندې محمول کولے شي لکه الله تعالی فرمائي : ﴿حُرِّمَتْ عَلَيْكُمُ الْمَيْتَةُ وَ الدَّمُ وَ لَحْمُ الْخِنْزِيْرِ﴾(سورة المائده/۳) .

**ترجمه :** حرام کړے شوي ده په تاسو باندې مرداره ، او وینه (بهیدونکي) او غوښه د خنزیر .

﴿قُلْ لَّآ اَجِدُ فِيْ مَآ اُوْحِىَ اِلَيَّ مُحَرَّمًا عَلٰى طَاعِمٍ يَّطْعَمُهٗٓ اِلَّآ اَنْ يَّكُوْنَ مَيْتَةً اَوْ دَمًا مَّسْفُوْحًا اَوْ لَحْمَ خِنْزِيْرٍ فَاِنَّهٗ رِجْسٌ﴾(سورة الأنعام آيت/١۴۵) .

**ترجمه :** ووايه ! اے پيغمبره زۀ نه بيا مومم پۀ هغه کښې چې وحي کړے شوي ده ما ته ، حرام کړي شوي پۀ خوړونکو ، چې خوري ئي مګر چې وي مرداره ، او يا وينه بهيدونکی او يا غوښه د خنزير ، پس يقينا دغه پليت دے .

دلته وينه بهيدل سبب دے او حرام کيدل ئي حکم دے ، ليکن پۀ يو آيت کښې مطلق دم او پۀ دويم آيت کښې دم مسفوح ذکر دے نو لهذا پۀ اول آيت کښې هم د دم نه به مراد دم مسفوح وي . دويم چې حکم او سبب ده دواړو مختلف وي نو بالاتفاق يو پۀ بل باندې نه شي حمل کيدلے .

لکه إرشاد دے ﴿وَ السَّارِقُ وَ السَّارِقَةُ فَاقْطَعُوْٓا اَيْدِيَهُمَا﴾(سورة المائده/٣٨) .

**ترجمه :** غلا کر سړے او غلا کره ښـځه پس کټ کړئ لاسونه د دوئ دويم ځائے کښې الله تعالى فرمائي : ﴿اِذَا قُمْتُمْ اِلَى الصَّلٰوةِ فَاغْسِلُوْا وُجُوْهَكُمْ وَ اَيْدِيَكُمْ اِلَى الْمَرَافِقِ﴾(سورة المائده آيت/۶) .

**ترجمه :** کله چې اراده د پاسيدو اوکړئ مانـځه ته ، پس وينـځئ مخونه خپل او لاسونه خپل تر څنګلو پوري .

پهٔ اول آیت کښې سبب غلا ده او پهٔ دویم آیت کښې اودس پهٔ اول آیت کښې حکم د قطعِ د لاس دے ، او پهٔ دویم آیت کښې ویډ ځل د لاس دي پهٔ اول آیت کښې مطلق ید دے او پهٔ دویم آیت کښې دېد سره سره « اِلَی الْمَرَافِقِ » قید هم لګیدلے دے نو لهذا پهٔ اول آیت کښې مذکور مطلق یَدْ پهٔ دې قید باندې نشي محمول کیدے .

۳ . چې حکم ئې مختلف وي او سبب ئې یو وي نو بیا هم یو پهٔ دویم باندې بالاتفاق محمول کیدلے نه شی لکه الله تعالی فرمائي : ﴿ فَتَيَمَّمُوْا صَعِيْدًا طَيِّبًا فَامْسَحُوْا بِوُجُوْهِكُمْ وَ اَيْدِيْكُمْ مِّنْهُ ﴾(سورة المائده آیت/۶) .

**ترجمه :** پس تیمم اوهئ پهٔ خاوره پاکه ، پس مسحه وکړئ پهٔ مخونو خپلو باندې او لاسونو خپلو باندې د هغې نه .

بل ځائے کښې ارشاد فرمائي : ﴿ يٰاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِذَا قُمْتُمْ اِلَى الصَّلٰوةِ فَاغْسِلُوْا وُجُوْهَكُمْ وَ اَيْدِيَكُمْ الى المرافق ﴾(سورة المائده/۶)

**ترجمه :** اے د ایمان خاوندانو ! کله چې اراده اوکړئ مانډ ځه ته پس اوینډ ځئ مخونه خپل او لاسونه خپل تر څنګلو سره .

دلته سبب پهٔ دواړو ځایونو کښې حصول د پاکوالے دے حکم مختلف دے پهٔ اول آیت کښې مسح کول د لاس دي

او پۀ دويم آيت کښې وينـ ځل د لاس اول آيت مطلق دے او دويم آيت مقيّد .
نو لهذا پۀ اول آيت مذکوره کښې مطلق يد پۀ دويم آيت کښې پۀ مقيّد « اِلَى الْمَرَافِقِ» باندې نشي محمول کيدلے دا ځانله خبره ده چې پۀ حديث کښې د تيمم پۀ طرف باندې « اِلَى الْمَرَافِقِ » قيد دے د دې وجه نه أحناف پۀ تيمم کښې هم پۀ دومره مقدار باندې پۀ لاسونو باندې د مسح قائل دي .
۴ . چې حکم يو او سبب جدا جدا وي لکه د الله تعالى ارشاد دے ﴿ وَ الَّذِيْنَ يُظٰهِرُوْنَ مِنْ نِّسَآىِٕهِمْ ثُمَّ يَعُوْدُوْنَ لِمَا قَالُوْا فَتَحْرِيْرُ رَقَبَةٍ مِّنْ قَبْلِ اَنْ يَّتَمَآسَّا﴾
(سورة المجادلة/۳)
**ترجمه :** او هغه کسان چې ظهار کوي د ښـ ځو خپلو سره ، بيا راګرځي د پاره (د ماتولو) د هغه چې دوئ وئيلي وي (نو پۀ دوئي) آزادول د مرئي دې مخکښې د مسحي کولو د يو بل نه .
دا آيت د کفاره د ظهار سره متعلق دے د کفاره د قتل متعلق ارشاد دے ﴿وَ مَنْ قَتَلَ مُؤْمِنًا خَطَـًٔا فَتَحْرِيْرُ رَقَبَةٍ مُّؤْمِنَةٍ﴾(سورة النساء/۹۲) .
**ترجمه :** او چا چې مړ کړو مؤمن پۀ خطاء سره نو آزادول د مرئي مومن دي .

نو حکم پهٔ دواړو ځایونو کښې د غلام د آزادولو دے سبب پهٔ اول ایت کښې کفاره د ظهار ده او پهٔ دویم آیت کښې کفاره د قتل ده ، اول آیت کښې مطلق غلام ذکر دے او پهٔ دویم آیت کښې مؤمن غلام ذکر دے .

پهٔ دې صورت کښې اختلاف دے د أحنافو پهٔ نزد باندې پهٔ دې صورت کښې مطلق به پهٔ خپل اطلاق باندې باقی ساتلے شي نو لهذا پهٔ کفاره د ظهار کښې کافر غلام آزادول هم کافي دي . د نورو فقهاء پهٔ نزدباندې مطلق پهٔ مقید باندې محمول کیدلے شي ، او د کفاره د قتل پشان پهٔ کفاره د ظهار کښې هم مسلمان غلام آزادول ضروري دي .

## تمـــرین

١ . د مطلق تعریف اوکړئ ؟

٢ . د مقیّد تعریف اوکړي ؟

٣ که چرته سبب حکم پهٔ یو ځائے کښې مقید ذکر شوے وي نو دواړه به پهٔ یو بل باندې محمول کیدلے شي یا نه ؟

۴ . که چرته حکم پهٔ یو نص کښې مطلق او پهٔ یو کښې مقید ذکر شوے وي نو د دی څومره صورتونه دي . او د دې صورتونو څه حکم دے ؟

۵ . د قرآن مجید نه د مقید دري/٣ مثالونه بیان کړئ .

## . امـــر :

د خاص دريم/۳ قسم امر دے ، أمر هغه لفظ دے چې د دې په ذريعه باندې ده يقين او جزم سره سره د يو څيز مطالبه هم شوي وي برابره خبره ده كه صيغه د أمر وی لكه : ﴿ اَقِيْمُوا الدِّيْنَ﴾(سورة الشورى/۱۳) .

**ترجمه :** او ادروئ دين لره .

يا جمله خبريه وي ليكن مقصود مطالبه وي لكه ﴿ وَ الْوَالِدٰتُ يُرْضِعْنَ اَوْلَادَهُنَّ حَوْلَيْنِ كَامِلَيْنِ﴾(سورة البقرة/۲۳۳) .

**ترجمه :** او ميندې چې دي ، تے به وركوی ، اولاد خپل ته دوه/۲ كاله پوره .

أمر په أصل كښې د وجوب د ښودلو د پاره راځي سوا د دی نه چې يوه قرينه موجوده وي ، چې كله تقاضا وي چې دلته د أمر نه د وجوب معنى مراد اخستلے شي نو په دې صورت كښې د اباحت يا استحباب معنى هم راتللے شي لكه:﴿كُلُوْا وَاشْرَبُوْا﴾(سورة الأعراف/۳۱) . خورئ او څكئ .

خوړل اوڅكل طبعي افعال دې چې د دی نه انسان مستغنی كيږی نه داسي طبعي ضرورتونه واجب ګرځول بے معنى دې .

دا د دې خبري قرينه ده چې دلته امر د وجوب د پاره نه دے.دارنګه ارشاد دے . ﴿وَ اِذَا حَلَلْتُمْ فَاصْطَادُوْا﴾(سورة المائده/۶) .

**ترجمه :** کله چې حلال شوئ پس ښکار کوئ .

د احرام نه مخکښې مختلف ښکار محض مباح وي نه چې واجب دا د د ي خبري قرينه ده چې د احرام د کهولاؤ والی نه وروسته ښکار کول مباح دې نه چې واجب .

أمر د خپل أصل په اعتبار سره د تکرار سره د فعل مطالبه نه کوي لکه قرآن مجيد کښې ارشاد دے . ﴿إِذَا تَدَايَنْتُمْ بِدَيْنٍ اِلَى اَجَلٍ مُّسَمًّى فَاكْتُبُوْهُ﴾(البقرة/٢٨٢) .

**ترجمه :** کله چې معامله کوئ په قرض سره ، تر نيته مقرري شوي پوري پس وليکئ هغی لره .

دلته د قرض ليکلو أمر دے د دې تقاضه دا نه ده چې په يو معامله کښې دې بار بار ليکل اوکړے شي .

ألبته داسې ممکنه ده چې د أمر په ذريعه باندې د کوم فعل حکم شوے دے په يو بل سبب باندې په دې فعل کښې تکرار موجوديدلےشي لکه (صلوة) په أوقاتو د صلوة کښې تکرار او روژه په مياشت د رمضان کښې د تکرار د وجه نه بار بار أدا کيدلے شي .

## تمــرين

١ . د أمر تعريف اوکړئ ؟

٢ . آيا د أمر د پاره د أمر صرف صيغه موجوديدل ضروري دي ؟

٣ . أمر په کومه معنی باندې دلالت کوي ؟

۴ . د أمر پهٔ ذریعه باندې چې د کومی خبري حکم شوے وي آیا دا پهٔ دیکښې د تکرار تقاضه کوي ؟

### ۴. نـــــهی :

هغه خاص لفظ دے چې پهٔ دیکښې د یو فعل نه د جزم او د یقین سره منعه والے شوے وي ، برابره خبره ده که صیغه د نهی وي لکه : ﴿وَ لَا تَأْكُلُوْٓا اَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ بِالْبَاطِلِ﴾(سورة البقرة/۱۸۸) .

**ترجمه :** او مه خورئ مالونه خپل پهٔ مینځ خپل کښې پهٔ باطله طریقه .

یا پهٔ لفظ د نهی سره وی لکه : ﴿وَ يَنْهٰى عَنِ الْفَحْشَآءِ وَ الْمُنْكَرِ وَ الْبَغْيِ﴾(البقرة/۹۰)

**ترجمه :** او منعه کوي د بے حیائی او بد کارونو نه ، او ظلم کولو نه .

یا د أمر پهٔ صیغه باندې د یوي خبري نه منعه والے شوي وي لکه : ﴿وَ ذَرُوا الْبَيْعَ﴾(سورة الجمعة/۹) او پریږدئ خرڅول .

او یا د تحریم لفظ استعمال شوے وي لکه ﴿حُرِّمَتْ عَلَيْكُمُ الْمَيْتَةُ﴾(سورة المائده/۳)

**ترجمه :** حرامه شوي ده پهٔ تاسو باندې مرداره یا ده حلالوالي نفي شوي وي لکه ﴿وَلَا يَحِلُّ لَكُمْ اَنْ تَأْخُذُوْا مِمَّا اٰتَيْتُمُوْهُنَّ شَيْئًا﴾(البقرة / ۲۲۹)

**ترجمه :** او حلال نه دې تاسو لره چې تاسو واخلئ د ځني هغه څه نه چې تاسو دې ښـځو لره ورکړي دې .

نهي په أصل کښې د منعه شوي ځيز حرمت ښائي سيوا د دينه چې د خلاف قرينه بيا موندلے شي په دغه صورت کښې نهی د کراهت يا د ارشاد د پاره هم وي لکه : ﴿اِذَا نُوْدِیَ لِلصَّلٰوۃِ مِنْ یَّوْمِ الْجُمُعَةِ فَاسْعَوْا اِلٰی ذِکْرِ اللهِ وَ ذَرُوا الْبَیْعَ﴾(سورة الجمعة آيت/٩) .

**ترجمه :** کله چې آذان اوکړے شي د جمعه د مانـځه د پاره نو تلوار اوکړئ ذکر د الله تعالى ، او پريږدئ سوداګري .دلته نهی د کراهت د پاره ده او د دې قرينه دا ده چې دلته د بيعي ممانعت د يو خارجي ځيز د وجه نه دې نه چې پخپله په بيعه کښې د فساد د وجه نه .

دغه ارشاد دے : ﴿لَا تَسْئَلُوْا عَنْ اَشْیَآءَ اِنْ تُبْدَ لَکُمْ تَسُؤْکُمْ﴾(سورة المائده آيت/١٠١)

**ترجمه :** تپوس مه کوئ د ډيرو ځيزونو باره کښې که ښکاره شي تاسو ته نو خفه به کړي تاسو لره .

دلته د سوال ممانعت بطور ارشاد دے د ارشاد نه مراد دا دے چې د دې مقصد ده يو حکم شرعي تکميل نه وی بلکه انسان د خفګان او د پريشانئ نه بچ کول مقصود وي او د شفقت د وجه نه منعه شوي وي .

## په منهی عنه اندې د نهي أثر

پهٔ منهی عنه باندې د نهی أثر غورځیږي ، پهٔ دې لحاظ باندې د نهی یو څو قسمونه دي .

١ . چې د یو کار نه پخپله منعه شوي وي ، لکه د محرم سره نکاح د مرداري بیعه که داسي ممنوع أفعال اوکړے شی نو پهٔ دې باندې هیڅ حکم شرعي نه مرتب کیږي . د دې وجي نه ده نکاح محرم پهٔ صورت کښې نسب نه ثابتیږي او د مرداري د خرڅولو پهٔ صورت کښې پهٔ مرداره او پهٔ ثمن باندې ملکیت نه ثابتیږي .

٢ . دویم چې د یو کار نه د یو خارجي وصف د وجه نه منعه شوي وي چې د هغې سره لازم نه وي لکه پهٔ مغصوبه زمکه کښې مونځ او د جمعه د آذان پهٔ وخت کښې تجارت کول که چرته پهٔ دې صورتونو کښې دا أفعال اوشي نو پهٔ دې باندې أثر شرعي مرتب کیږي ، ألبته دا کس ګنهګار دے .

چنانچه مونځ صحیح شو او بیع صحیح ده خو لیکن د دې فعل د وجه نه ګنهګار دے .

٣ . دریم دا چې د یو فعل نه د داسی د یو خارجي وصف د وجه نه منعه راغلي وي چې هغه د دې د ذات نه خارج هم وی او د دې سره لازم هم وي لکه د وړوکي أختر پهٔ ورځ باندې روژه نیول یا د شرط فاسد سره بیعه کول د جمهورو پهٔ نزد باندې پهٔ دې صورت کښې هم د ممنوعه أفعالو د کولو پهٔ صورت کښې پهٔ دې باندې شرعي أحکام

نه مرتب کيږي ، چې کوم د دې سره تعلقه ده ، د أحنافو پۀ نزد باندې أثر مرتب کيږی روژه کيږي او د شرط فاسد سره بيعه هم کيږي او د قبضی نه روستو ملکيت هم ثابت کيدلے شي .

## تمـــرين

١ . د نهي تعريف اوکړئ ؟
٢ . نهی پۀ کومه خبره باندې دلالت کوي ؟
٣ . پۀ منهی عنه باندې د نهی د أثر پۀ اعتبار باندې څومره او کوم کوم صورتونه دي ؟

## ٥ . عـــا : 

عام هغه لفظ دے چې پۀ کثير او غير محدود أفرادو ته بطور استغراق د شامليدلو د پاره وضعه شوي وي لکه (المؤمنون) که چرته عشرة مؤمنين يا مأة مؤمنين اوئيلے شی نو دا عام نه دے ، ځکه عشرة او مأة الفاظ پۀ کثير باندې دلالت کوي ، مګر دا کثير محدود او محصور دے ، دغه رنګه مؤمنون هم عام نه دے چې پۀ ديکښې د استغراق او د شمول معنی نه وي .

**د عا الفاظ پۀ عمو اندې د دلالت کولو والا څه أهم الفاظ دا دي**

(١) کل جميع ، کافه لکه : ﴿كُلُّ نَفْسٍ بِمَا كَسَبَتْ رَهِينَةٌ ﴿٣٨﴾﴾ (سورة المدثر/٣٨) .

**ترجمه :** هر نفس پهٔ سبب د هغه څه چې کړي وي ګانړه به وي .

**(۲)** جمع معرّف باللام لکه : ﴿وَ الْوَالِدٰتُ يُرْضِعْنَ اَوْلَادَهُنَّ﴾(سورة البقرة/۲۳۳) .

**ترجمه :** او میندې به پئ ورکوی خپلو بچو لره .

**(۳)** جمع معرّف بالاضافة لکه : ﴿يُوْصِيْكُمُ اللّٰهُ فِىْٓ اَوْلَادِكُمْ ۖ لِلذَّكَرِ مِثْلُ حَظِّ الْاُنْثَيَيْنِ﴾(سورة النساء/۱۱) .

**ترجمه :** وصیت (حکم) کوي تاسو ته الله پهٔ باره د اولاد ستاسو کښې د پاره د نارینه پشان د حصی د دوؤ/۲ زنانوو .

**(۴)** مفرد معرَف باللام لکه :﴿ الزَّا نِيَةُ وَ الزَّانِىْ فَاجْلِدُوْا كُلَّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا مِأَئَةَ جَلْدَةٍ﴾(النور/۲) .

**ترجمه :** زنا کاره زنانه او زنا کاره سړے اووهئ هر یو د دې دواړو نه سل/۱۰۰ دورّې .

**(۵)**أسمائے موصوله : لکه د محارمو زنانوو د ذکر نه روستو ﴿وَ اُحِلَّ لَكُمْ مَّا وَرَآءَ ذٰلِكُمْ﴾(سورة النساء/۲۴) .

**ترجمه :** او روا شوي دې ستاسو د پاره هغه چې علاوه د دينه دې .

**(۶)** اسمائے شرط لکه : ﴿وَ مَا تُنْفِقُوْا مِنْ خَيْرٍ يُّوَفَّ اِلَيْكُمْ﴾ (سورة البقرة/۲۷۲) .

**ترجمه :** او هغه چې تاسو ئې خرچ کوئ د څه مال نه نو پوره به درکړے شی تاسو ته .

**(٧)** نكره روستو د نفى نه لكه « لَا وَصِيَّةَ لِوَارِثٍ » نيشته وصيت د وارث د پاره .

**(٨)** نكره موصوفه لكه ﴿وَ لَعَبْدٌ مُّؤْمِنٌ خَيْرٌ مِّنْ مُّشْرِكٍ وَّ لَوْ اَعْجَبَكُمْ﴾(سورة البقرة/٢٢٢)

**ترجمه :** او خامخه مرئے مؤمن غوره دے د مشرك نه اگر كه تعجب كښي اچوي تاسو لره .

د عام حكم د أحنافو پهٔ نزد باندي ،د خاص پهٔ شان عام هم دے پهٔ خپله معنى دلالت كولو كښي قطعي دے ، او محتاجه بيان ته نه دے ددي ده وجي نه د كتاب الله پهٔ عام باندي د خبر واحد پهٔ ذريعه باندي تخصيص صحيح نه دے د نورو فقهاء پهٔ نزد باندي دعام پخپله معنى باندي دلالت ظنى دے د دي وجه نه پهٔ خبر واحد سره تخصيص كيدلے شى لكه ارشاد دے ﴿وَ لَا تَاْكُلُوْا مِمَّا لَمْ يُذْكَرِ اسْمُ اللهِ عَلَيْهِ وَاِنَّهُ لَفِسْقٌ﴾ (سورة الأنعام/١٢١) .

**ترجمه :** او مه خورئ بعض د هغه څه نه چي ياد نشي نوم د الله پهٔ هغه باندي او يقينًا دا وتل دي د الله د حكم نه .

دا ټول آياتونه د ټولو څناورو دحرمت د پاره دى چي پهٔ هغه باندي د الله تعالى نوم وانخستلے شي د دي پهٔ مقابله كښي دا روايت چي « اَلْمُسْلِمُ يَكْفِيْهِ اِسْمُهُ » د مسلمان د پاره د مسلمان نوم هم كافي دے .

د دي نه معلوميږي چې د انسان د پاره پۀ ذبيحه باندې د الله نوم اخستل ضروري نه دې ، شوافع د دې حديث نه پۀ آيت کښې تخصيص کوي، ألبته که چرته کتاب الله د حديث مشهور يا د حديث متواتر پۀ ذريعه د عام پۀ بعضي أفرادو باندې تخصيص کيدو نو پۀ باقي باندې به دلالت ظني وي لهذاده خبر واحد يا قياس وغيره پۀ ذريعه د مزيدو أفرادو تخصيص هم کيدلے شي تر دې چې درې افراد باقي پاتې شي .

## تخصيص پۀ کومو ذرائعو باندې کيږي؟

١ . د تخصيص يوه ذريعه عقل دے لکه د الله تعالى ارشاد دے ﴿اِنَّ اللهَ عَلٰى كُلِّ شَىْءٍ قَدِيْرٌ ﴿٢٠﴾﴾(سورة البقره/٢٠)

او الله تعالى پۀ هر څيز باندې قدرت والا دے .

عقل تقاضه کوي چې د (کل شئ) نه د الله ذات مستثنى دے چې قادر مطلق کيدل د مقدور کيدو منافي دے .

٢ . د تخصيص دويمه ذريعه احساس او مشاهده ده لکه د ملک سبا پۀ باره کښې فرمائيلى شوي دي ﴿وَ اُوْتِيَتْ مِنْ كُلِّ شَىْءٍ﴾(سورة النمل/٢٣)

او ورکړے شوے دے هغې ته د هر ضروری شي نه .

ليکن دا خبره ښکاره ده چې څه د سليمان ◆ سره وو هغه د بلقيس سره نه وو .

۳ . د تخصیص دریمه ذریعه عرف دے لکه ارشاد دے﴿وَ الْوَالِدٰتُ يُرْضِعْنَ اَوْلَادَهُنَّ﴾(سورة البقرة/۲۳۳)

.

**ترجمه :** او میندې پئ دې ورکوي خپل اولاد لره .

مګر د دینه شریف او اوچت نسب والا زنانه فقهاء خاص کړي دي چې پۀ دې باندې شوده څکول واجب نه دې ځکه د قران د نزول پۀ وخت کښې دغه عرف وو .

۴ . د تخصیص څلورم سبب نص دے لکه ارشاد دے ﴿وَ الْمُطَلَّقٰتُ يَتَرَبَّصْنَ بِاَنْفُسِهِنَّ ثَلٰثَةَ قُرُوْٓءٍ﴾(سورة البقرة/۲۲۸) .

**ترجمه :** او طلاقي شوي زنانه انتظار به کوي پۀ خپلو ځانونو دري حیضه . لیکن د حاملو زنانؤ پۀ باره کښې فرمائیلي شوي دې ، دغه رنګه دویم آیت د اول آیت پۀ عموم کښې تخصیص پیدا کوي .

## د عا دري/۳ قسمونه دي

دغه شان عام د خپل مراد پۀ سلسله کښې درى قسمونه دې .

۱ . چې د عام نه پۀ قطعی طور باندې عام مراد کیدلے شي لکه : ﴿اَللّٰهُ خَالِقُ كُلِّ شَيْءٍ﴾(سورة الزّمر/۶۲) .

**ترجمه :** الله پیدا کونکے د هر څیز دے .

﴿وَ مَامِنْ دَآبَّةٍ فِی الْاَرْضِ اِلَّا عَلَى اللّٰهِ رِزْقُهَا ﴾(سورة هود/۶)

**ترجمه :** نيشته يو زنده سر پۀ زمکه کښي مگر پۀ الله تعالی ئي رزق دے .
عام طور باندې دا صورت پدې خصوصی معاني باندې دے چې د دې تعلق د عقيدې سره دے .

**دويم :** چې يقيني طور باندې د عام نه خصوصی معنی مراد ده عموم مقصود نه دے . ﴿وَ لِلهِ عَلَى النَّاسِ حِجُّ الْبَيْتِ مَنِ اسْتَطَاعَ اِلَيْهِ سَبِيْلًا﴾(سورة آل عمران/۹۷)

**ترجمه** : خاص د الله د پاره پۀ خلقو باندې حج د بيت الله دے پۀ هغه چا چې طاقت لري هغه ته د لارې .

**دريم :** عام مطلق چې پۀ دېکښې د تخصيص د پاره واضحه قرينه نه وي، او نه داسی قرينه وي چې دا اوښائي چې دا پۀ عموم باندې باقي کيدل ضروري دې پۀ دېکښې د دې درجه د قوّي دليل پۀ بناء باندې تخصيص پۀ عمل کښې راتلے شي .

## تمــرين

۱ . د عام تعريف اوکړئ ؟
۲ . د قرآن مجيد نه ده عام لس/۱۰ مثالونه بيان کړئ ؟
۳ . د عام حکم او پۀ هغي کښې د فقهاء اختلاف اوښائي ؟
۴ . پۀ کومو ذرائعو سره پۀ عام کښې تخصيص کيږی ؟
۵ . د معانيو د مراد پۀ اعتبار باندې د عام دری/۳ قسمونه سره د مثالونو نه بيان کړئ ؟

## مشترك او مؤول

**مشترک :**

هغه لفظ دے چې دوه یاده دوؤ/٢ نه د زیاتو معانیو د پاره وضعه شوي وي لکه «عَيْنٌ» د دې معنی سترګه هم ده، د اوبو چشمه هم ده ، د نمر سترګه هم ده ، د زنګون سترګه هم ده ، سره زر هم دي ، د انسان سترګه هم ده (یا) مِنْ د دي معنی بعض هم ده او إبتداء هم ده .

د مشترك حکم دا دے چې د نورو قرائنو پۀ ذریعه باندې د دی د متعدد معانیو نه د یو معنی تعین کیدلے شي . او د دې مطابق عمل به کیدلے شي لکه د الله رب العزت ارشاد دے .

﴿وَالْمُطَلَّقَاتُ يَتَرَبَّصْنَ بِأَنْفُسِهِنَّ ثَلَاثَةَ قُرُوْءٍ ﴾(سورة البقرة/٢٢٨) .

**ترجمه :** او طلاق شوي زنانه انتظار به کوی پۀ خپلو ځانونو باندې درې حیضه .

د قرء معنی (حیض) هم ده او (طهر) هم دی لیکن أحناف ترې د حیض معنی مراد اخلي ځکه د [١]عدت مقصد فراغت د رحم پیژندل دي او دا د حیض نه معلومیږي [٢]بل پۀ حدیث کښې د وینزې عدت دوه حیضه مقرر شوي دي

[٣] درېم قرآن کښې د حیض د نا اومیده شوؤ زنانوو د پاره عدت درې میاشتې مقرر کړې دي نو معلومه شوه

چې پۀ عدت کښې أصل حيض دے نو پۀ يو وخت کښې لفظ مشترك د متعددو مختلفو معانيوو د پاره مراد کيدلے نه شي نو مشترك د مختلفو معانيو نه چې کله دې لره ترجيح ورکړي شي ديته مؤوَّل وائي .

## تمـرين

١ . د مشترك تعريف اوکړئ ؟
٢ . مشترك کله مؤول کيږي ؟
٣ . د مشترك حکم څه دے ؟
۴ . پۀ قرآن مجيد کښې د مشترك دوه مثالونه بيان کړئ ؟

## ☸حقيت او مجاز☯

لفظ پۀ خپله معنى کښې د استعمالولو پۀ اعتبار باندې پۀ څلور قسمه دے .

(١) حقيقت (٢) مجاز (٣) صريح (۴) کناية .

لفظ چې د کومې معنى د پاره وضع شوے وي او پۀ هغه معنې کښې استعمال وي نو دا حقيقت دے ، د واضع د اختلاف پۀ اعتبار باندې حقيقت هم پۀ څلور قسمه دے .

(١) لغوي (٢) شرعي (٣) عرفى (۴) اصطلاحي .

أهل زبان که د شرعي مطابق لفظ استعمال کړے وى نو حقيقت لغوي ، لکه أرض د دى معني زمکه ، سماء د دې معني آسمان که چرته شريعت د وضع مطابق استعمال کړے وي نو حقيقت شرعي لکه صلوة ، صوم ، او که عامو خلقو د وضع مطابق استعمال کړے وي نو حقيقت

عرفي لکه دآبَّة چې د څلورو خپو والا د پاره استعمال شوي ده یا یو خاص فرد یاد یو مخصوص ډلي جماعت د وضع مطابق استعمال وي نو حقیقت اصطلاحي لکه د فقهاء په نزد فرض او مندوب او د نحویانو په نزد باندې کلمه او کلام .

د حقیقت حکم دا دے چې د کوم یو لفظ د پاره أصلا معنی حقیقی مراد وی نه د دې د پاره د قرینې ضرورت دے ، او نه د متکلم د نیت ، او که چرته د معنی حقیقی او د معنی مجازي په مینځ کښې تعارض وي نو معنی حقیقی لره به ترجیح حاصله وي .

**مجــاز :**

هغه لفظ دے چې په خپله وضعی معنی کښې استعمال نه وي بلکه په بله معنی کښې استعمال وي او د دې استعمال او د وضعي معنی په مینځ کښې یو مناسبت موجود وي لکه د الله تعالی ارشاد دے ﴿أَوۡ لَٰمَسۡتُمُ ٱلنِّسَآءَ﴾(سورة النساء/۴۳)

**ترجمه :** یا مسح کړي وي تاسو زنانه .

د ملامست حقیقی معنې په یو بل باندې لاس راښکل لیکن دلته جماع مراد ده ، او د دې د استعمالي معنی او د حقیقی معنی په مینځ کښې مناسبت ښکاره دے نو معنی حقیقي پریښودل او دویمه معنی په هغه وخت کښې مراد

کيدلے شي چې د دې دپاره يوه قرينه موجوده وي دا قرينه پۀ مختلفو قسمونو باندې کيدلے شي .

**(ألف)** نفس کلام لکه د الله تعالى ارشاد دے ﴿وَ اخْفِضْ لَهُمَا جَنَاحَ الذُّلِّ﴾

(سورة الاسراء/٢۴)

**ترجمه :** او ښکته کړه دواړو ته وزرې د عاجزئ .

دلته معنى حقيقى هغه لاس ښکته کول دې مګر د (ذل) لفظ پۀ دې خبره باندې دليل دے چې معنى حقيقى مراد نه ده .

**(ب)** د کلام سياق لکه د الله تعالى ارشاد دے ﴿فَمَنْ شَآءَ فَلْيُؤْمِنْ وَّ مَنْ شَآءَ فَلْيَكْفُرْاِنَّآ اَعْتَدْنَا لِلظّٰلِمِيْنَ نَارًا﴾(سورة الکهف/٢٩)

**ترجمه :** د چا چې خوښه شي نو ايمان دې راوړي او د چا چې خوښه وي نو کفر دې اوکړي يقينا تيار کړے دے مونږه د ظالمانو د پاره اور .

دلته معنى حقيقى پۀ ظاهره دا ده چې مخاطب ته د ايمان او د کفر اختيار ورکړے شوے دے مګر مخکښې ﴿اِنَّآ اَعْتَدْنَا لِلظّٰلِمِيْنَ نَارًا﴾ د دې خبرې قرينه ده چې د دينه تهديد مقصود دے .

**(ج)** د متکلم کيفيت ! لکه ښځه د خاوند د کور نه تګ غواړي ، او خاوند ورته وائي که د کور نه اووتلې نو ته طلاقه ئې ، نو معنى حقيقى دا ده چې زنانه د کور نه کله

هم اووتله نو دا پهٔ دې باندې طلاقيږي ليکن د متکلم کيفيت ښائي چې پهٔ دغه وخت کښې پهٔ وتلو باندې طلاق غورځول مقصود دے ديته يمين فور وئيلے کيږي .

**(د)** عرف او عادت ! لکه يو کس قسم اوخري چې زهٔ به د فلانکي پهٔ کور کښې قدم نه کيدم ، نو معنی حقيقی دا ده چې خپې به پهٔ دې کور کښې نه کيدې ، مګر پهٔ عرف کښې د دې نه مطلق دخول معنی مراد اخستلې شوي ده لکه د الله تعالی ارشاد دے ﴿حُرِّمَتْ عَلَيْكُمْ أُمَّهٰتُكُمْ﴾(سورة النساء/٢٣) .

**ترجمه :** حرام کړے شوي دي پهٔ تاسو باندې ميندې ستاسو .

معنی حقيقی د مور حراموالے دے مګر مراد د مور نه د نکاح حراموالي دے دا معنی مجازي ده دا څه أهم قرائن دې چې د دې پهٔ بناء باندې د معنی حقيقی پهٔ ځائے باندې معنی مجازي مراد کيدلے شی .

## حـــکم :

چې پهٔ کوم ځائے کښې معنی حقيقی مراد کيدل ممکن نه وي يا متکلم پخپله اووائي ، چې د دينه معنی مجازي مراد ده ، يا يو قرينه موجود وي چې د هغي نه معلوميږي چې د متکلم مقصود معنی مجازي ده پهٔ دې ټولو صورتونو کښې د لفظ نه د دې معنی مجازي مراد ده .

د يو لفظ نه پۀ يو وخت کښې معنى حقيقى او معنى مجازي دواړه مراد کيدلے نه شي لکه د قمر معنى حقيقى سپوږمئ او معنى مجازي ښائسته انسان دے ، نو د قمر نه پۀ يو وخت کښې دواړه معنى مراد کيدل صحيح نه دے ألبته د دې نه يو صورت مستثنى دے چې هغى ته عموم مجاز وائي ، عموم مجاز دا دے چې د لفظ نه معنى مجازي مراد واخستلے شي مګر پۀ معنى مجازي کښې دومره عموم وي چې معنى حقيقى هم پۀ ديکښې داخله وي لکه يو کس اوائي چې زۀ به ستا پۀ کور کښې قدم نه کيدم ، د دې معنى حقيقى بغير د چپلو او پيزار وغيره نه خپي اېښودل دي ، او عموم مجاز دا دے چې مطلق داخليدل مراد دي که هغه خپي ابله خپى وي ، او که هغه چپل اغوستي وي .

## د حقيقت قسمونه

چونکه معنى مجازي عام طور باندې هغه وخت مراد کيدلي شي ، چې کله معنى حقيقى مراد نه وي پۀ دې لحاظ باندې د حقيقت دري/٣ قسمونه دي .

### (١) حقيقت متعذره :

دا هغه دے چې د دې پۀ عمل کولو کښې ډير مشقت او ګران والے وي لکه يوکس اوائي د آم د ونې پۀ باره کښې چې زۀ دا ونه نه خورم نو دلته به د ونې ميوه خوړل مراد

وي، ځکه د دې معنی حقيقی د ونې خوړل دې په دې باندې عمل کول انتهائي ګران دې .

**۲ . حقيقت مهجوره :**

دا هغه دے چې په دی باندې عمل کول ممکن وي مګر عادتًا يا شرعًا په دې باندې عمل کول پريښودلے شوي وی لکه يو کس اوائي چې زۀ به ستا په کور کښې قدم نه کيدم ، نو د قدم د ايښودو معنی حقيقی صرف خپی په کورکښې ايښودل دي ، او د جسم باقی حصه د کور نه بهر کيدل ، مګر عادتا دا معنی مراد نه ده ، يا يو کس د بل کس خلاف په مقدمه ،کښې وکيل بالخصومة جوړ شي نو د وکالت بالخصومة معنی حقيقی د فريق مخالف د هغه د ترديد وکيل جوړول ، ليکن شرعًا چونکه دا جائز نه دے چې ده فريق مخالف ده هر صحيح او د غلطی خبری نفی وکړی ، ددې وجه نه دا په مطلق جواب باندې محمول دے ، نو د دی د پاره د انکار او د اقرار دواړو ګنجائش شته ، نو ده حقيقت په دې دواړو صورتونو کښې به بالاتفاق معنی مجازي مراد کيدے شي .

**۳ . حقيقت مستعمله :**

دا هغه دے چې د هغي استعمال مروج وی ، بيا د حقيقت مستعمله دوه صورتونه دی ، يو دا چې د دې معنی مجازی مروّج نه وي نو په دی صورت کښې به بالاتفاق

پۀ معنی حقیقی عمل کولے شي ، أکثر الفاظ دغه رنګه دي .
دویم : چې مجازي معني د حقیقی معنی نه زیاته مرَّوج وي ، د إمام ابوحنیفه رح پۀ نزد باندې پۀ داسي صورت کښې پۀ معنی حقیقی باندې عمل کیدلے شي ، د امام أبو یوسف امام محمد رحمهما الله پۀ نزد باندې به پۀ داسی صورت کښې پۀ معنی حقیقی باندې عمل کیدلے نشي ، لکه یو کس قسم اوخري چې زۀ به غنم نه خورم نو پۀ پخپله د غنم خوړولو معنی متروك نه ده ، پۀ سختئ سره غنم خوړلے کیږی مګر پۀ غنمو کښې د وړو استعمال زیات مروج دے ، د دې وجه نه د امام ابو حنیفه رح پۀ نزد باندې د غنمو پۀ أصل صورت کښې خوړل مراد دی ، او پۀ دې صورت کښې دغه کس حانث دے ، ورنه نه دے .
د صاحبین پۀ نزد باندې د غنمو نه چې کومي روټئ وغیره جوړه شوي ده که هغه ئي اوخوړه نو دے حانث کیږي .

### ❁د وضاحت او بیان پۀ اعتبار سره د لفظ قسمونه☯
د واضح والی پۀ اعتبار باندې د لفظ څلور/۴ قسمونه دي .

(۱) ظاهر (۲) نص (۳) مفسر (۴) محکم

**١ . ظاهـــر :**

هغه لفظ دے چې د دی مقصد پۀ خپله ده لفظ نه پوهي ته راځي ، ألبته د دينه د ثابتولو والا حکم د کلام مقصود نه وي لکه د الله تعالى ارشاد دے ﴿وَ اَحَلَّ اللّٰهُ الْبَيْعَ وَ حَرَّمَ الرِّبٰوا ﴾(سورة البقرة/٢٧٥)

**ترجمه :** او حلاله کړي ده الله تعالى بيعه او حرام کړےئي دے سود .

د دې آيت نه مقصد د تجارت او د سود پۀ مينځ کښې د فرق بيان د ے، ألبته د دې اخستل او خرڅول جائز کيږي ، او د سود نا جائز والى معلوميږي ، پۀ دې اعتبار باندې دا ظاهر دے .

د ظاهر حکم دا دے چې پۀ دې باندې عمل کول واجب دې ، د دينه نه حدود او کفارات هم ثابتيږي ألبته پۀ ديکښې د تأويل او د نسخ ګنجائش شته دے .

**٢ . نـــص :**

هغه دے چې د ظاهر نه زيات واضح وي ، او دغه د کلام مقصود وي لکه د الله تعالى ارشاد دے ﴿وَاِنْ خِفْتُمْ اَلَّا تُقْسِطُوْا فِی الْيَتٰمٰى فَانْكِحُوْا مَا طَابَ لَكُمْ مِّنَ النِّسَآءِ مَثْنٰى وَ ثُلٰثَ وَ رُبٰعَ١ فَاِنْ خِفْتُمْ اَلَّا تَعْدِلُوْا فَوَاحِدَةً اَوْ مَا مَلَكَتْ اَيْمَانُكُمْ ﴾(سورة النساء/٣)

**ترجمه :** او که چرې ويريدئ چې انصاف به ونکړئ پۀ يتيمانانو جينکو کښې ، پس نکاح اوکړئ د هغو سره چې

حلالي وي تاسو لره د ښځو نه ، دوه دوه ، دری/۳ دري/۳ او څلور/۴ څلور/۴ پس كه چري ويريدئ چې انصاف به ونكړئ پهٔ ګنړو ښځو كښې ، پس غوره كړئ يوه او يا هغه چې مالك ئي دې ښې لاسونه ستاسو .

پهٔ دې آيت كښې مقصد دا ښودلے دے چې د څلورو پوري د نكاح اجازت دے، د دې نه د زياتو نيشته دے، نو پس د تعداد د نكاح د بيان پهٔ اعتبار باندې دا نص دے، پهٔ نص باندې عمل كول واجب دی ، ألبته پهٔ دې كښې تأويل او د نسخ احتمال باقي دے ، كه چرته پهٔ يو آيت كښې نص او پهٔ دويم آيت كښې پهٔ ظاهر كښې پهٔ ظاهره ټكراو وي نو نص لره به ترجيح وركولے شی لكه د مذكوره آيت نص دا دے چې پهٔ يو وخت كښې څلور ښبياني د ځان سره ساتلے شي ، او دويم ځائے كښې الله تعالى فرمائي ﴿ وَ أُحِلَّ لَكُمْ مَّا وَرَآءَ ذٰلِكُمْ ﴾(سورة النساء/۲۴)

**ترجمه :** او حلالي شوي دې تاسو لره ، هغه چې سوا د ذكر شوؤ نه دي .

د دينه ظاهره دا ده چې پهٔ قرآن كښې ذكر شوي محرم زنانوو نه علاوه نكاح جائز ده ، برابره خبره ده چې د هغي تعداد هر څومره دے ، نو اول آيت لره به پهٔ نص باندې ترجيح وی چې د څلورو نه زياتی ښبيانی پهٔ يو وخت كی نشی راجمعه كولے

## تمـــرين

١ . حقيقت چا ته وائي ؟
٢ . د مجاز تعريف اوكړئ ، او د قرآن مجيد نه كم از كم دري مثالونه پيش كړئ ؟
٣ . د كومو قرائنو د وجي نه چې معنى حقيقى پريښودلي شوي ده د هغي مثالونه واضح كړئ ؟
۴ . د عموم مجاز نه څه مراد دے ؟
۵ . د حقيقت متعذره او مهجوره د مثالونو پۀ ذريعه پوهه شئ ؟
۶ . حقيقت مستعمله څه ته وائي او حكم ئي څه دے ؟

مفسر-مفسرهغه دےچه اندازه واضح وي چه دتاويل اوتخصيص ګنجائش كښې باقي نه وي لكه الزَّا نِيَةُ وَ الزَّانِيْ فَاجْلِدُوْا كُلَّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا مِأَئَةَ جَلْدَةٍ۞(النور/٢) .

**ترجمه :** زنا كاره زنانه او زنا كاره سړے اووهئ هر يو د دې دواړو نه سل/١٠٠ دورّې .

دمسرحكم دادے چه .پدې باندې عمل كول واجب وي .
پدېكي دتاويل اعتبارنه وي البته دني عليه السلام دحيات طيبه پورى پدېكي چنسخ امكان موجود وى ــكه چرته پۀ نص او مفسر كي تعارض موجودشونومفسرلره به ترجيح وركولي شي لكه تزوجت ــمانكاح اوكړه-*دالفظ دنكاح* صحيح پاره نص دے-اوس كه چرته دتزوجت سره-

شهرا-اوئ نو-شهرا-پدې نکاح کې په نکاح متعه
کېدلوباندې مفسرشونولهذادانکاح به باطله گرزولې شي –
*محکم-هغه دے چه هغه نهايت درجه واضح وي ا پدېکې دنسخ احتمال نه وي –لکه ان الله بکل شيئ عليم-=التوبه۵ -يقينن الله په هرشي باندې پوهه د ے دسلسله وحي بندېدلونه بعدمفسر هم محکم گرزي دغه رنگې دالله دزات او صفاتومتعلق اياتونه او هغه احکام چه دهغې دهميشوالي صراحت موجودوي –محکم دی دمحکم حکم داد ے چه پهٔدې باندې عمل کول واجب وي دمفسراومحکم تعارض چه کله راشي نوترجيح به محکم لره وي –لکه الله تعالي فرمائي(وَ أَشْهِدُوا ذَوَيْ عَدْلٍ مِنْكُمْ ): الطلاق ۲ =گواهان اونيسئ خاوندن دانصاف ستاسونه دامفسر د ے ددې تقاضاداده چه دمحدودفي القذف گواهي دتوبې نه بعدمعتبروي-ولې ځکه چې په توبې سره انسان دفسق ددائرې نه اوزي ليکن په بوبل روايت کې دمحدودفي القذف پهٔباره کې دې(وَ لَا تَقْبَلُوا لَهُمْ شَهَادَةً أَبَدًا (۴) النور ۴-اومه قبلوئ ددوئ نه گواهي هچېرې –دامحکم د ے ددېنه معلومه شوه چه دمحدودفي القذف گواهي هم معتبرنه ده نوددې وجې نه دېلره ترجيح ده چه دمحدودفي القذف گواهي هم معتبرنه ده .*

## تمرين

۱ . دظاهرتعريف اوکئ اودقران مجيدنه کم ازکم دوه / ۲مثالونه بيان کئ؟

۲ . دنص تعريف اوکئ اوکم ازکم ددې دوه /۲مثالونه دقران مجيدنه
بيان کئ
۳ . پۀ دې آيت کښې نص څه شے دےاوظاهرڅه شےدے وَّارْكَعُوْا مَعَ الرّٰكِعِيْنَ﴿۴۳﴾ ( سورةالبقرة /۴۳
۴ . دمفسرتعريف اوکئ اوکم ازکم دوه مثالونه راوړئ؟
۵ . محکم چاته وائي دمثالونونه ئي واضح کئ

## د خفاء او د ابهام پۀ لحاظ باندې د لفظ قسمونه

د خفاء او د ابهام پۀ اعتبار باندې لفظ پۀ څلور قسمه دے چې د دې څلورو مقابل دے .
(۱) خفي (۲) مشکل (۳) مجمل (۴) متشابه .

### ۱ . خـــفی :

خفی هغه دے چې د هغی لغوي معنی ظاهره وی ، ليکن پۀ بعض صورتونو کښې د دی پۀ منطبق کولو کښې شبه وي لکه : وَ السَّارِقُ وَ السَّارِقَةُ فَاقْطَعُوْٓا اَيْدِيَهُمَا جَزَآءًۢ بِمَا كَسَبَا نَكَالًا مِّنَ اللّٰهِ (سورة المائدہ/۳۸) .

**ترجمه** : غلا گر سړے او غلا گره ښـ ځه کټ کړئ لاسونه د دوئ ، سزا ده پۀ سبب د هغه څه چې دوئ کړی دي عبرتناکه سزا ده د الله د طرف نه .

پۀ دې آيت کښې سرقه يعنی غلا د دې معنی ظاهر او واضحه ده ليکن جيب کتره او کفن پټونکے ته هم سارق

وئيلے کيږي ، پۀ دې اعتبار سره د سارق مراد مشکوك او خفي دے ، د خفي حکم دا دے چې پۀ دې کښې غور او سوچ اوشي او د دې پۀ نتيجه باندې عمل اوکړے شي مثلا چې جيب کټکونکے کښې د سرقه د غلا کيفيت پۀ سخته طريقه سره موجود دے .

د دې د وجه نه د دی سزا به هغه وي چې کومه د سارق او د غل ده .

پۀ کفن چور کښې د سرقه کيفيت خفيف او آسان دے، ځکه چې کفن چور محفوظ مال نه اخلي د دې وجه نه پۀ دې باندې دې د غلا سزا جاري نه شي .

### ٢ . مشــــکل :

مشکل هغه دے چې د هغه معنی بذات خود واضحه نه وي ، لکه : ﴿قَوَارِيْرَاۡ مِنْ فِضَّةٍ قَدَّرُوْهَا تَقْدِيْرًا ﴿١٦﴾﴾(سورة الدهر/١٦)

**ترجمه :** شيشې جوړي شوي د سپينو زرو نه اندازه کړي به ئې وي پۀ اندازي سره قاروره د ششی وي نه د سپينو زرو بيا د غور او فکر نه معلومه شوه چې د الله رب العزت مراد دا دے چې قاروره د جنت پۀ صفائي کښې دشيشي پشان او پۀ سپين والي کښې د چاندئ پشان ده نو د مشکل حکم دا دے چې د دې د حق والي عقيده لرل او د دې د مقصد پيژندلو د پاره غور او فکر واجب دے که

چرته د غور او فکر نه وروسته مراد او مقصد واضح کړے شي نو بيا په دې باندې عمل کول واجب دې .

### ۳ . مجـــمل :

مجمل هغه دے چې په ديکښې دومره درجه ابهام وي چې پخپله شارع يا متکلم د هغې د وضاحت نه بغير نه جدا کيږي لکه : ﴿وَ اَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ وَ اٰتُوا الزَّكٰوةَ ﴾(سورة المزمل/۲۰)

**ترجمه :** ودروئ مونځ لره او ورکوئ زکوٰة .

د اقامة صلوة او د ايتاء الزَّکوٰة کيفيت او شرائط او أحکام د دې آيت نه معلوميږي د دې وجي نه مجمل دے ، دمجمل چې کله د شارع يا د متکلم د طرف نه وضاحت وکړے شی نو دا مفسّر جوړيږي چنانچه نبی◆ د خپلو أعمالو په ذريعه باندې د اقامت الصَّلوٰة او د ايتاء الزَّکوٰة تفسير کړے دے د دې د وجه نه دا مجمل باقي پاتی نه شو، د مجمل حکم دا دے چې د دې د حق والي عقيده لرل او کله چې د شارع د طرف نه د دې وضاحت نه وي شوے د دې په باره کښې توقّف او د شارع د طرف نه د تفسير او وضاحت نه روسته په دې باندې عمل کول واجب دې .

### ۴ . متشـــا□ه :

متشابه هغه دے چې د دې مراد يقيني طور باندې معلوم نه وي او په دې باندې پوهيدل هم ممکن نه وي متشابهات په دوه قسمه دې .

١ . د سورتونو په شروع کښې راوړنکي حروف مقطعات د الله رب العزت صفات چې په قرآن او سنت کښې بيان شوي دې ، او د هغي ظاهر کيفيت مراد شوے نۀ وي لکه : ﴿يَدُ اللهِ فَوْقَ اَيْدِيْهِمْ﴾(سورة الفتح/١٠)

**ترجمه :** لاس د الله تعالى د پاسه د لاسونو د دوئ نه دے

﴿فَاَوْحَيْنَآ اِلَيْهِ اَنِ اصْنَعِ الْفُلْكَ بِاَعْيُنِنَا﴾(سورة المؤمنون/٢٧)

**ترجمه :** پس وحي اوکړه مونږه دوئ ته چې جوړوه کشتئ لره په مخامخ د سترګو زمونږه .

د متشابه حکم دا دے چې د دې د حق والي ايمان لرل ، او د دې کيفيت او حقيقي مقصد علم الهي ته حواله کول مثلا دا دصفاتو د الله رب العزت د پاره ثابت دې ليکن د الله تعالى د شان مطابق چې په هغي باندې هغه پوهه او واقف دے .

## تمــرين

١ . د خفی تعریف اوکړئ او کم از کم یو مثال بیان کړئ ؟
٢ . د مشکل تعریف اوکړئ او کم ازکم دوه مثالونه بیان کړئ ؟
٣ . په خفی او مشکل کښې څه فرق دے ؟
۴ . د مجمل تعریف اوکړئ او کم از کم د قران مجید نه دري مثالونه بیان کړئ ؟ .
۵ . د مجمل وضاحت څوک کوي ؟
۶ . چې د مجمل نه ابهام لرې شي نو هغه ته څه وئیلے شي ؟
٧ . د مجمل حکم څه دے ؟
٨ . د متشابه تعریف اوکړئ ، او د قرآن مجید او د أحادیثو نه دوه دوه مثالونه بیان کړئ ؟
٩ . په مجمل او متشابه کښې څه فرق دے ؟
١٠ . د متشابه څه حکم دے ؟

### ☸د دلالت قسمونه☯

لفظ په خپله معنی د دلالت کولو په اعتبار سره په څلور/۴ قسمه دے (١) عِبَارَةُ النَّص (٢) اِشَارَةُ النَّص (٣) دَلَالَتُ النَّص (۴) اِقْتِضَاءُ النَّص . **. 1عِبَارَةُ النَّص :** چې کومه معنی د لفظ نه معلومیږي لیکن کلام د دې د پاره نۀ وي راوړلے شوے دا عِبَارَةُ النَّص دے .

۲. اِشَارَةُ النَّص :

چې کومه معنی د لفظ نه معلومه وي ليکن کلام د دې د پاره رانه وړلے شو دا اِشَارَةُ النَّص دے لکه د الله تعالی ارشاد دے ﴿وَ عَلَى الْمَوْلُوْدِ لَهٗ رِزْقُهُنَّ وَ كِسْوَتُهُنَّ بِالْمَعْرُوْفِ﴾(سورة البقرة/۲۳۳)

**ترجمه :** او په هغه چا چې هغه لره بچے وي ، خوراک د دغو ښځو ، او جامې د دوئ دې موافق ده رواج .

ددی آيت مقصد دا دے چې د شودو ورکولو اجرت دا په پلار باندې واجب دے ، ليکن پلار ته مولود له اووئيلے شو ، دادې خبرې ته اشاره ده چې د بچو نسب د پلار نه ثابتيږي نه چې د مور نه نو په پلار باندې اجرت د رضاعت واجب کيدل دا د دې آيت عِبَارَةُ النَّص دے او د بچو پلار طرف ته منسوب کيدل دا د دې آيت اِشَارَةُ النَّص دے . ۳دَلَالَتُ النَّص :

دا هغه حکم دے چې په نص کښې مذکور نۀ وي مګر دا د دينه بغير د غور او فکر نه پوهی ته راځي لکه د الله تعالی ارشاد دے ﴿وَ بِالْوَالِدَيْنِ اِحْسَانًا ؕ اِمَّا يَبْلُغَنَّ عِنْدَكَ الْكِبَرَ اَحَدُهُمَاۤ اَوْ كِلٰهُمَا فَلَا تَقُلْ لَّهُمَاۤ اُفٍّ وَّ لَا تَنْهَرْهُمَا وَ قُلْ لَّهُمَا قَوْلًا كَرِيْمًا۝۲۳﴾(سورة الاسراء/۲۳)

**ترجمه :** او نيکي کوئ د مور او پلار سره ، که چرې اوسيږي ستا په ژوند کښې يو د دې دواړو نه بوډا توب ته

او یا دواړه پس مه وایه دوئ ته اف قدري ، او مه رټه دوئ لره او وایه دوئ ته خبره عزتمنده .
دي آیت کښې الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ د والدینو د اف وئیلو نه منعه فرمائیلي ده ، لیکن مور او پلار ته کنـځلي کول د دې هیڅ ذکر نۀ دے شوے او عام کس هم چې کله دا آیت واوري نو هغه هم وائي چې مور او پلار ته کنـځلي کول نا جائز دی نو دا د دې آیت دَلَالَتُ النَّص دے ..

۴ إِقْتِضَاءُ النَّصِ :

پۀ نص کښې داسی زیات والے چې د دینه بغیر کلام نۀ صحیح کیږي اِقْتِضَاءُ النَّص دے . لکه د الله تعالی ارشاد دے ﴿حُرِّمَتْ عَلَيْكُمُ الْمَيْتَةُ وَ الدَّمُ وَ لَحْمُ الْخِنْزِيْرِ﴾(سورةالمائده/۳)

**ترجمه :** حرام کړے شوي ده پۀ تاسو باندې مرداره او وینه (بهیدونکي) او غوښه د خنزیر .

پۀ دی آیت کښې (المیتة) د دې نه مخکښې د أکل لفظ مقدر منل پکار دې یعني د دې څیزونو خوراک پۀ تاسو باندې حرام کړے شوے دے .

## تمـــرین

۱ . د عِبَارَةُ النَّص او د اِشَارَةُ النَّص تعریف اوکړئ ؟
۲ . دا اوښائي چې د دې آیت عِبَارَةُ النَّص څه شے دے او اِشَارَةُ النَّص څه شے دے ﴿وَ اِنْ خِفْتُمْ اَلَّا تُقْسِطُوْا فِی

الْيَتٰمٰى فَانْكِحُوْا مَا طَابَ لَكُمْ مِّنَ النِّسَآءِ مَثْنٰى وَ ثُلٰثَ وَ رُبٰعَ☯(سورة النساء/٣)

**ترجمه :** او كه چري ويريدلئ چې انصاف به ونهٔ كړئ پهٔ يتيمانانو جينكو كښې پس نكاح وكړئ ، د هغوئ سره چې حلالي وي تاسو لره د ښځو نه دوه/٢ دوه/٢ دري/٣ دري/٣ څلور/۴ څلور/۴ ؟

٣ . د دَلَالَتُ النَّص او د اِقْتِضَاءُ النَّص تعريف اوكړئ ؟

۴ . د دَلَالَتُ النَّص او د اِقْتِضَاءُ النَّص د دې دواړو يو يو مثال بيان كړئ

☸د دلالت د څلورو قسمونو بيان☯

د دلالت د دې څلورو صورتونو نه أحكام ثابتيږي او دا پهٔ قياس باندې مقدم دې ، ألبته د تعارض پهٔ وخت كښې عِبَارَةُ النَّص لره به پهٔ اِشَارَةُ النَّص باندې او اِشَارَةُ النَّص لره به پهٔ دَلَالَتُ النَّص باندې ترجيح وركولے شي مثلا :

☸يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُتِبَ عَلَيْكُمُ الْقِصَاصُ فِي الْقَتْلَى ☯(سورة البقرة/١٧٨)

**ترجمه :** اے د ايمان والو ! فرض شوي دې پهٔ تاسو باندې بدله اخستل پهٔ باره د وژلے شوؤ كښې .

د دې آيت عِبَارَةُ النَّص دا دے چې پهٔ قتل عمد كښې قصاص واجب دے ، دويم ځائے كښې ارشاد دے ☸وَ

مَنْ يَّقْتُلْ مُؤْمِنًا مُّتَعَمِّدًا فَجَزَآؤُهٗ جَهَنَّمُ خٰلِدًا فِيْهَا وَ غَضِبَ اللّٰهُ عَلَيْهِ وَ لَعَنَهٗ۞(سورة النساء/٩٢)

**ترجمه :** او څوک چې قتل کړي مؤمن لره په قصد سره ، پس بدله ئي دوزخ دے هميشه به وي په دغه کښې او غضب کړے الله تعالی په دغه باندې او لعنت ئي پرې کړے .

په دې آيت کښې د مؤمن د قتل پوره سزا جهنم مقرر شو د دې اِشَارَةُ النَّص دا دے چې د قتل عمد په صورت کښې قصاص واجب نهٔ شي نو په مخکښې آيت عِبَارَةُ النَّص باندې په دې آيت کښې په اِشَارَةُ النَّص باندې ترجيح ورکولے شی .

دويم د الله تعالی ارشاد دے ۞وَ مَنْ قَتَلَ مُؤْمِنًا خَطَـًٔا فَتَحْرِيْرُ رَقَبَةٍ مُّؤْمِنَةٍ وَّ دِيَةٌ مُّسَلَّمَةٌ اِلٰٓى اَهْلِهٖٓ اِلَّآ اَنْ يَّصَّدَّقُوْا۞(سورة النساء/٩٢)

**ترجمه :** او چا چې قتل کړو مؤمن لره په خطاء سره ، پس لازم دی په ده آزادول د ځښت مؤمن ، او ديت سپارلے شوے وارثانو د هغه ته مګر چې صدقه وکړي (په معافئ کولو سره ) .

د دې آيت دلالت دا دے چې په قتل عمد باندې دې په درجه اولی کفاره واجب کړے شي ، دويم ځائے کښې فرمائي ۞وَ مَنْ يَّقْتُلْ مُؤْمِنًا مُّتَعَمِّدًا فَجَزَآؤُهٗ جَهَنَّمُ خٰلِدًا فِيْهَا ۞(سورة النساء/٩٣)

**ترجمه :** او څوک چې قتل کړي مؤمن لره په قصد سره پس بدله ئي دوزخ دے همیشه به وي په دغه کښې .

د دې آیت اِشَارَةُ النَّص دادے چې په قتل عمد کښې کفاره واجب نۀ شي ، ځکه د قتل سزا جهنم ګرځولے شوي ده ، او جهنم په هغه صورت کښې واجب کيږي چې د دې ګناه کفاره ممکن نۀ وي نو بس دې آیت د اِشَارَةُ النَّص ته په اول آیت دَلَالَتُ النَّص باندې ترجیح ورکړے شوي ده .

## تمــرین

١ . د دلالت د څلورو قسمونو څه حکم دے ؟

٢ . که په دیکښې تعارض راشي نو څه شي لره په څه باندې ترجیح ورکولے شي ، په کتاب کښې د ذکر شوي مثال نه علاوه په مثالونو باندې پوهه شئ ؟

## ❁مفهوم مخالف☯

پۀ نص کښې چې د کوم صورت د پاره کوم حکم بیان شوے وي د دې صورت نه پۀ علاوه کښې د دې هغه مخالف حکم د ثابتولو نوم مفهوم مخالف دے لکه د الله تعالی ارشاد دے ❁وَ اِنْ كُنَّ اُولَاتِ حَمْلٍ فَاَنْفِقُوْا عَلَيْهِنَّ حَتّٰى يَضَعْنَ حَمْلَهُنَّ☯(سورة الطلاق/۶)

**ترجمه :** او که چرته وي خاوندان د حمل نو خرچه اوکړئ پۀ هغوئ تردی چې کیدې خپل حمل لره .

پۀ دې آیت کښې طلاقي شوي زنانه د حاملوالي پۀ صورت کښې د دې عدت نفقه واجبه ګرځولي شوي ده ، چې کله طلاقه شوي زنانه حامله نه وي نو د دی د عدت نفقه نه ده واجب شوي ، دا مفهوم مخالف دے . د أحنافو پۀ نزد باندې د کتاب الله او د سنت رسول الله❐ پۀ نصوصو کښې د مفهوم مخالف اعتبار نیشته ، نور فقهاء دلته مفهوم مخالف معتبر کوي .

### تمــرین

۱ . د مفهوم مخالف تعریف اوکړئ ؟

۲ . دا اوښائي چې د دې آیت مفهوم مخالف څه شے دے ❁وَ مَنْ لَّمْ يَسْتَطِعْ مِنْكُمْ طَوْلًا اَنْ يَّنْكِحَ الْمُحْصَنٰتِ الْمُؤْمِنٰتِ فَمِنْ مَّا مَلَكَتْ اَيْمَانُكُمْ مِّنْ فَتَيٰتِكُمُ الْمُؤْمِنٰتِ☯(سورة النساء /۲۳)

**ترجمه :** او هغه څوک چې نۀ لري ستاسو نه طاقت د نکاح کولو د آزادو ښځو سره ، ايماندارو پس نکاح اوکړئ د هغو نه چې مالکان دي ښې لاسونه ستاسو ، د وينځو نه .

## ☸د شريعت د احکامو مقصدونه او درجي☯

د شرعي بنيادي طور باندې پنځه/۵ مقاصد دي .

(۱) حفظ دين (۲) عبادت (۳) جهاد (۴) دعوت الى الله (۵) د ارتداد سزا وغيره مقصود حفاظت د دين دے .

### ۱ . حفظ دين :

يعني د ځان او د عزت حياء تحفظ د طعام د خوراک ، اباحت د قتل نفس ممانعت ، د قصاص او ديت وجوب ، د تهمت حرمت او پۀ دې باندې د حد وغيره احکام د حفاظت د نفس د پاره دي .

### ۱ . حفظ عقل :

د نشه آور څيزونو حرمت او پۀ دې باندې د حد مقصد د عقل حفاظت دے .

### ۳ . حفظ نسل :

د نکاح مشروعيت او د زنا حرمت او پۀ دې باندې حد ، عدت او د نسب د ثبوت أحکام وغيره د دې مقصد د پاره دې .

### ۴ . حفظ مال :

تجارت او کسب معاش وغیره اجازت د غلا او غصب ممانعت ، د مالی معاملاتو وغیره احکام د دې ټولو منشأ حفاظت د مال دے د دې پنځو مقاصدو لاندې د راروانو حکمونو درې/۳ درجات دې

**۱ . ضرورت :**

چې د دینه بغیرد دې مقاصدو خمسه تحفظ ممکن نۀ دے ، دا ضروری ده لکه د ځان بچ کولو د پاره د معمولي خوراک اجازت دے .

**۲ . حاجت :**

هغه احکام چې پۀ هغي باندې مقاصد خمسه موقوف خو نۀ وي لیکن که دا نۀ وي نو مشقت پیدا کیږي لکه سوي ډوډۍ خوړل چې زندګي پۀ دې باندې موقوف خو نۀ ده لیکن که د دې اجازت ورنۀ کړیشي نو مشقت دے .

**۳ . تحسین :**

هغه أحکام چې پۀ کومو مقاصدو کښې سهولت او آساني پیدا کول وي لکه د قسم قسم خوندناکو خوراکونو اجازت ، د ضرورت درجه د ټولو نه اول ده بیا حاجت او د دې نه روستو د تحسین درجه ده ، که چرته د ضرورت او حاجت نه پۀ یو باندې عمل ممکن وو نو ضرورت لره به ترجیح وي ، که چرته پۀ حاجت او تحسین کښې تعارض وو نو حاجت لره به ترجیح حاصله وي .

مثلا دوه کسان په سفر کښې وي د یو سره د خپل ضرورت نه زیات خوراک وي او دويم ته د لوږي د وجه نه د مرګ خطره ده نو دې وګي کس لره د خپل ملګري د خوراک نه بغير د اجازت نه خوراک کول صحيح دي، ځکه چې د دې وګي کس د پاره خوړل ضرورت دے او د دويم د پاره حاجت چې روسته به ئي دا وګے کس أدا کوي .

دغه رنګه نفل مونځ د بيمار د خدمت د پاره پريښودلے شي ځکه د مريض د پاره خدمت کول کم از کم (حاجت) دے او نفل او مستحب مونځ په ديني اعتبار سره د (تحسين) په درجه کښې دے او حاجت لره په تحسين باندې غوره والے حاصل دے .

ألبته که چرته په يو درجه کښې په دوؤ/۲ حکمونو کښې تعارض وو نو په ترجيح کښې به ترتيب دغه رنګه وي ، دين ، جان ، عقل ، نسل ، مال ، مثلا جهاد په ديني اعتبار سره ضرورت دے ، او ځان د مرګ د قوي خطري نه بچ کول د حفاظت جان په لحاظ سره ضرورت دے .

اوس حفاظت د دين لره غوره والے ثابت دے او باوجود په انديښنه د مرګ کښې جهاد فرض دے ، يو کس مجبوره شو چې دا زنا اوکړه ګنې د دينه به قيمتي مال غصب کيږي اوس دلته د زنا نه بچ کيدل د حفاظت په

لحاظ سره ضرورت دے نو حفاظت د نسل لره به ترجیح وي او زنا کول د دې د پاره جائز نۀ ده .

## تمـــرين

١ . د شريعت مقاصد خمسه کوم کوم دې ؟

٢ . د حفظ نفس نه مراد څه دې ؟

٣ . د أحكام شريعت کومی کومي درجي دې ؟

۴ . که په ضرورت حاجت او په تحسين کښي تعارض وي نو په کوم کوم باندې به ترجيح وي ، په کتاب کښي د مذکور سوال نه علاوه په بل مثال سره واضح کړئ ؟

۵ . د شريعت په مقاصدو خمسوو کښي د أهميت او ترجيح په اعتبار سره څه ترتيب دے ، په کتاب کښي د مذکور مثالونو په ځائے د نورو مثالونو نه واضح کړئ ؟

تمت هذا الكتاب والتصحيح بوقت العشاء

الاحقرابومنقادالله بن الحاج خان بادشاه حالانزيل شريف آبادشانري باجورباكستان

٧ اكتوبر ٢٠٢٠ ليلة الإثنين

٢٧محـــــــرم المحرام١۴۴١هـ

## مؤلف کے دیگر تالیفات

1۔کتاب الحجامة پښتو ......................۔. مطبوع
2۔حوارات المسلم عربی ...................... مطبوع
3۔حوارات النسوة عربی ...................... مطبوع
4۔حوارات ابناء الاسلام ...................... غیرمطبوع
5۔حوارات بنات الاسلام عربی ..........۔۔... ۔۔مطبوع
6۔حدیقة المسلم عربی ...................... غیرمطبوع
7۔حدیقة النسوة عربی ...................... غیرمطبوع
8۔تذکرة بیاد شیخ اردو ......................... مطبوع
9۔اتحاد الامت پښتو ............................غیرمطبوع
10۔معارف الاحوال لاصلاح عمل الاطفال پښتو . مطبوع
11۔اسان اصول فقه پښتو .................... غیرمطبوع
12۔لغة الاطفال عربی ......................... غیرمطبوع
13۔میزان الصرف عربی ......................۔۔ مطبوع
14۔صرف بهائی عربی ............................غیرمطبوع
15۔مه غمژن کیګه ............................غیرمطبوع
16۔اسلامی نغمے پښتو ...................... غیرمطبوع
17۔دعوت الی الله۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔غیرمطبوع
18۔روضة الاطفال۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔مطبوع

19۔پښتو ترجمه اسان مونځ ـــــــــــــــــــــــــــــــ مطبوع

20۔ماحکم المیراث فی الاسلام ـــــــــــــــــــــــــــــ مطبوع

21۔اَلْمُکَالَمَۃُ بَیْنَ یَدَیک ـــــــــــــــــــــــــــــ غیر مطبوع

22۔اسانه طریقه دقرآن مجیددحفظ ـــــــــــــــــ غیر مطبوع

23۔علم القرآن ـــــــــــــــــــــــــــــــــــــ غیر مطبوع

24۔اهل القرآن ورجال القرآن ـــــــــــــــــــــــ غیر مطبوع

25۔پرسکون گھرانه اورحقوق نسواں ـــــــــــــ غیر مطبوع

26۔المکالمه بین النساء ــــــــــــــــــــــــــــــ غیر مطبوع

27۔څلویښت دعاګانی او څلویښت حدیثونه ـــــــــ مطبوع

28۔عظمت قرآن بزبان قرآن ـــــــــــــــــــــــ غیر مطبوع

29۔الجرح والتعدیل وظوابط التحقیق والتخریج ـــــــ غیر مطبوع

30۔اصول الحدیث فی حدیث الرسول ــــــــــــ غیر مطبوع

31۔توحید باری تعالیٰ سے متعلقه شکوک وشبهات کا ازاله۔ غیر مطبوع

32۔پښتو ترجمه رہنمائے اساتذه مطالعۂ قرآنِ حکیم ـــ غیر مطبوع

33۔پښتو ترجمه مطالعۂ قرآنِ حکیم جلد اول ـــ غیر مطبوع

34۔پښتو ترجمه مطالعۂ قرآنِ حکیم جلد دویم ـ غیر مطبوع

35۔پښتو ترجمه خیرالاصول فی حدیث الرسول ـــــ مطبوع

36۔فتنوں مؤمن کا کردار ـــــــــــــــــــــــــ غیر مطبوع

37۔نورالقرآن ۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔غیر مطبوع

38۔فکری منصوبی۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔غیر مطبوع

فهرس


| | |
|---|---|
| مقدمه | 10 |
| دويم باب | 12 |
| سنت | 20 |
| حجِّيَت حديث | 21 |
| دسنت قسمونه | 23 |
| اجماع | 27 |
| دليل حجيت | 30 |
| قياس | 32 |
| دقيـاس شرطونه | 36 |
| دفرع سره متعلق شرطونه | 38 |

| | |
|---|---|
| ❁دعلت سره متعلق شرطونه☯ ______________ | 39 |
| ❁دنص دعلت حکم☯ _____________________ | 41 |
| ❁مصالح مرسله☯ ________________________ | 46 |
| ❁قول صحابي☯ _________________________ | 53 |
| ❁استصحاب☯ ___________________________ | 55 |
| ❁احکام شرعيه☯ ________________________ | 57 |
| ❁دأحکامو داستنباط طريقي☯ _________________ | 68 |
| ❁مشترك اومؤول☯ _______________________ | 88 |
| ❁حقيت اومجاز ☯ ________________________ | 90 |
| ❁دخفاءاوداِبهام په لحاظ باندې دلفظ قسمونه☯ ___ | 98 |
| ❁ددلالت قسمونه☯ ________________________ | 105 |
| ❁مفهوم مخالف☯ __________________________ | 111 |
| ❁دشريعت داحکامو مقصدونه اودرجې☯ ______ | 112 |